# نړيوال جهاد

# او

# غزوة الهند

ليکوال:

## مولوي مدثر

# د کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:**

نړیوال جهاد او غزوة الهند

**لیکوال:**

مولوي مدثر

**چاپ‌وار:**

دویم

**کمپوز او ډیزاین:**

ابو انس افغان

**خپرندویه:**

انس خپرندویه ټولنه

د کتاب هر ډول حقوق محفوظ دي !

# فهرست


تقریظ ........................................................ ۷
تقریظ ........................................................ ۸
د جهاد تعریف ................................................ ۹
د جهاد نه کولو عذاب ....................................... ۹
د جهاد کولو فضیلت ........................................ ۱۰
په جمهوري او طاغوتي نظامونو کې د تکفیر مسئلې وضاحت ........ ۱۱
د جمهوریت تعریف: .......................................... ۱۱
هغه علماء چې شریعت د ووټونو له لارې جاري کوي .............. ۱۸
د جهاد ډولونه................................................ ۲۰
آیا په اسلام کې د مسلمانانو په منځ کې سرحدونه شته ............. ۲۳
آیا جهاد په اوس وخت کې فرض عین دی؟ ......................... ۲۷
د پاکستان د اوسني جهاد شرعي حیثیت............................. ۲۹
ایا د پاکستان حکومت  ته اسلامي حکومت ویلی شو ................ ۳۰
د پاکستان د کفري جمهوریت د کفر یو څو نموني ................... ۳۲
آیا اوس وخت کې د جهاد لپاره د مور، پلار او یا امیر اجازې ته ضروت شته؟..... ۳۳
په مسلمانانو باندې د خلافت قایمول فرض دي!..................... ۳۶
اسلامي هېوادونو کې طاغوتي نظامونه!............................. ۴۲
د جهاد لپاره د عصري علومو فرضیت ............................... ۴۵
آیا د غزوة الهند  جهاد بغاوت دی؟ ................................. ۴۷
د غزوة الهند د جهاد د فرضیت یو ډېر مهم لامل...................... ۴۸
په پاکستان کې د اسلامي نظام قیام د القدس د فتح کیدو لاره خلاصوي.......... ۵۰
د پاکستان جهاد په احادیثو کې ..................................... ۵۱
د پاکستان فوج خو کلمه هم وایې بیا د دوی وژل څنګه دي ............ ۵۳
نن ورځ جهاد فرض عین دی مګر شتمن مو نفلي حاجونه کوي!........... ۵۵
دجهاد فضـــیلـــت................................................. ۵۶
له الله تعالی سره په ځان سودا کول.................................. ۵۷
دجهاد شان او مرتبه ............................................... ۵۷
په جهاد کې د نیت برابرول......................................... ۵۸
شهیدان ژوندي دي ............................................... ۵۸
د شهادت فضیلت ................................................ ۵۹

له الله تعالی څخه د شهادت د سوال فضیلت ............................ ۵۹
ددنیا د یو غرض لاس ته راوړلو لپاره جهاد کول ............................ ۶۰
د یو صحابي مبارک له شهادت سره مینه ............................ ۶۰
د یوساعت په اندازه د الله ﷻ په لار کې د تېرولو غوره والی ............................ ۶۱
د غوره مجاهد صفت په احادیثو کې ............................ ۶۱
د قیامت په ورځ د خیانت کوونکي مجاهد شرمنده ګي ............................ ۶۲
څوک چې د قوم پرستۍ او یا هم د پښتونولۍ په خاطر جنګ کوي ............................ ۶۳
مجاهد به ضرور په ټولو شرعي امورو کې د خپل امیر اطاعت کوي ............................ ۶۴
د ولس حق په یو مسؤل او مجاهد باندې ............................ ۶۵
د جنګ په وخت کې به مجاهد صبر او ذکرکوي ............................ ۶۶
شهید به ولې بیرته دې دنیا ته دراتلو هیله لري ............................ ۶۶
دشهادت تمنا کول ............................ ۶۷
په جنت کې د شهید درجې ............................ ۶۷
له جنګ څخه دمخه دکفارو اسلام ته دعوت کول ............................ ۶۸
د الله ﷻ په لارکې د پیره کوونکي مقام او مرتبه ............................ ۶۹
جهاد ته په تللو کې صرف د یوې رسۍ د تر لاسه کولو د نیت خطر ............................ ۶۹
د اسلامي سرحد ساتل ............................ ۷۰
دمجاهد د پښو دګرد ارزښت ............................ ۷۱
د غزا ډولونه او د مجاهد صفتونه ............................ ۷۱
د یو مجاهدد تیارولو فضیلت ............................ ۷۲
دیو مجاهد کورنۍ د نفقې ورکولو فضیلت ............................ ۷۲
د مجاهدینو د ښځو مقام او مرتبه ............................ ۷۳
د سمندري جهادفضیلت په نورو جهادونو ............................ ۷۳
د شهید د زخم او وینې مقام او مرتبه ............................ ۷۴
د جنت دروازې د تورو ترسیورو لاندې دي ............................ ۷۴
کوم شهادت ګناهونه له منځه وړي ............................ ۷۵
کوم یو مجاهد د الله تعالی په لار کې ده ............................ ۷۶
دامام او امیر مسؤلیت ............................ ۷۶
د جهاد په لار کې صدقه تر ټولو صدقو بهتري لري ............................ ۷۷
دالله تعالی په لار کې پاته کیدل د (۷۰) کلونو تر لمانځه غوره دي ............................ ۷۷
په اعمالو کې بهترین عملونه کوم دي ............................ ۷۸

له غزا څخه بیرته راگرځیدل دومره ثواب لري لکه غزا کول............................................................۷۹
دالله په لارکې د روژې نیولو فضیلت............................................................................۷۹
ښځې او ماشومان به د کفارو هم  نه وژل کیږي.................................................................۸۰
کافر به هم په اور نه سوځول کیږي ............................................................................۸۰
مجاهد به کبرجن،خیانت کوونکی او پوروړی نه وي .........................................................۸۱
د یو شهید شپږ عجیبه مقامات ..................................................................................۸۱
د مسلمانانو جهاد ته هڅول .......................................................................................۸۲
یو مسلمان به له څو کفارو سره مقابله کوي؟ .................................................................۸۲
د احادیثو مبارکوو له مخې جهاد ته هڅونه.......................................................................۸۳
درسول الله ﷺ مشرکانو ته بد دعاء ...........................................................................۸۳

# ډالۍ

دغه معنوي تحفه هغو ځوانانو ته ډالۍ کوم چې په نړۍ کې د
اسلامي نظام د قیام لپاره د جــهاد په سپېڅلې لاره کې خپل
سرونه او خپلې معصومې وینې نذرانه کوي

**په درنښت :**

**ستاسو ورور مولوي مدثر**

## تقریظ

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی قائد المجاهدین وعلی آله وصحبه اجمعین**

**اما بعد:** جهـاد د اسلام د مبارک دین یو له هغه محکمې او نه منسوخیدونکې فریضې څخه ده چې رسول الله ﷺ یې په اړه فرمایلي دي:

جهاد نه د ظالم پادشاه ظلم ختمولی شي او نه د عادل پادشاه عدل (الحدیث)

لیکن په هره زمانه کې په څه نا څه بهانه جهاد ته رکاوټونه(خنډونه) جوړ شوي دي،کله په دې نامه چې دا ځان وژنه ده،کله داچې د امیر امر نشته،کله داچې شرعي امیر نشته،کله داچې د مور او پلار له اجازې پرته جهاد نشته وغیره حالانکه ددې ټولوخـبروحل د شریعت په کتابونو کې موجود دی؛په هر حال نن سبا جهاد فرض عین دی د هیچا اجازې ته ضرورت نه دی پاته شوی،د خپل وس مطابق په عربو او عجمو بالاخره په ټوله نړۍ جهاد فرض عین گرځیدلی دی،نو په دې موضوع عمل ته ډېر ضرورت دی،همدغه ضرورت زموږگران ورور مولوي مدثر حفظه الله محسوس کړو او دا رساله یې ولیکله، ما هم لوی لوی مظامین وکتل ماشاءالله ډېره مفیده مي ومونده،لهذا مسلمانانو ته پکار دي چې مطالعه یې کړي او وړاندې یې تر نورو ورسوي،الله تعالی دي مولوي صیب محترم ته اجر عظیم ورکړي او دغه رساله دي د عامه مفید لپاره ورته قبوله کړي.آمین یارب العالمین.

**مناظر اهل السنة والجماعة حضرت مولا نامفتي ندیم "درویش " حفظه الله ورعاه**

## تقریظ

**الحمدلله علی من ارسل رسوله بألهدی و دین الحق لیظهره علی دین کله ولو کره المشرکون:** الحمدلله ما چې ددې رسالې ځینې مهم مسائل مطالعه کړل نو د نني عصر سره موافقه او د خلکو د اعتراضاتو دافع اود بهترینې عقیدې جوړولو یوه ډېره جامعه رساله ده خدای ﷻ دي زموږ ملګري مولوي صاحب مدثر ته جزا خیر ورکړي الله ﷻ دي همدا رساله مولوي صاحب او دده والدینو لپاره د آخرت بهترینه ذخیره وګرځوي آمین ثم آمین.

ستاسو ورور مولوي حق پرست

## د جهاد تعریف

جهاد په لغت کې له جهد څخه اخیستل شوی ده چې معنا یې انتهایي کوښښ کولو ته وایي او په اصطلاح کې دالله په لاره کې جنگ کول او په دې لاره کې په خپل ټول توان د خپل ځان،مال او ژبې مصرف کولو ته جهاد وایي.

(بدائع الصنایع للعلامة الکاسانی، ټوک ٦، مخ ٥٧)

دجهاد دوام به دقیامت تر ورځې پورې وي

لن یبرح هذا الدین قائمایقاتل علیه عصابة من المسلمین حتی تقوم الساعة.[١]

ژباړه: د مسلمانانو یوه ډله به د همیشه لپاره په دې دین راپورته شوې وي او په دې دین به جنگیږي ترڅو چې قیامت راشي.

## د جهاد نه کولو عذاب

**قال رسول الله ﷺ من مات ولم یغزو ولم یحدث به نفسه مات علی شعبة من النفاق**[٢]

**ژباړه:** څوک چې مړشو اونه یې غزا وکړه اونه یې د غزا کولو په اړه له ځان سره خبره وکړه،نو کس په داسي حال کې دغه کس مړ شو نو بیشکه دی مړ شو د منافقت په یوه برخه باندې.

تردې چې د امت لوی فقیه او تابعي: سعید ابن المسیب رحمه الله ددې حدیث په تشریح کې لیکي: چې جهاد په هر حالت کې فرض عین دی او له همدې څخه د جهاد اهمیت څرگندیږي مگر د جمهورو علماء په نزد باندې جهاد دوه ډولونه لري چې

[١] (رواه مسلم،مشکاة المصابیح،مخ ٣٣٠)

[٢] (رواه مسلم،مشکاة المصابیح،کتاب الجهاد)

وروسته به ذکر شي،همدارنگه د امت لوی محدث عبدالله ابن مبارک رحمه الله هم د جهاد تقسیم نه مني او فقط فرض عین جهاد مني او بس.

## د جهاد کولو فضیلت

**أن رجلا قال یارسول الله! دلنی علی عملی یعدل الجهاد؟قال لا أجده ثم قال هل تستطیع اذا خرج المجاهد ان تدخل مسجدك فتقوم ولا تفتر وتصوم ولا تفطر؟فقال ومن یستطیع ذالك«رواه البخاري»**

یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راځي او ورته وایي چې ماته یو داسي عمل راوښایه چي له جهاد سره برابر وي نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایي: چي زه داسي عمل نشم پیدا کولای چي هغه له جهاد سره برابر وي بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چي آیا ته دا توان لرې چې کله مجاهد د الله تعالی په لار کي ووتلو نو ته د خپل عبادت ځای ته داخل شې نو ټوله ورځ او شپه الله تعالی ته په قیام او عبادت تیروې او هیڅ ستړی کیږې نه او ورسره هم مهاله روژې هم نیسي پداسي چي هیڅکله روژه هم نه ماتوې نو بیا هغه سړي وویل چي دغه به د چا په وس کې وي؟ یعنې هیڅ داسي کوم عمل نشته چې هغه دي په فضیلت کې له جهاد سره برابر وي اوکه چیرته موږ د عقل او فکر له نظره هم ورته گورو جهاد تر ټولو اعمالو یو غوره او بهتره عمل دی ځکه بل هیڅ داسي یو عبادت نشته چي په هغه کي دي یو څوک د ځان او مال دواړو قرباني ورکړي او پسته او نرمه مسلماني خو هر څوک کوي چي کالي بدل کړه،د جمعې په ورځ ښایسته پگړۍ ووهه،نوکونه پرې کړه،عطر او خوشبویي ولگوه دا خو هر یو کس فطرتا هم دغه اعمال کوي تردې چي یو عاقل غیر مسلم هم د خپل ځان د نظافت خیال ساتي او داسي نور اعمال سرته رسوي مگر اصل مسلماني داده چي د الله تعالي د دین په خاطر دربندې تکلیفونه تېر شي او په عملي ډول د جهاد او ایثار ډگر ته راووځې!

## په جمهوري او طاغوتي نظامونو کې د تکفیر مسئلې وضاحت

دا چې الحمدلله د نورو مسایلو ترڅنګ د تکفیر په باب کې هم د اهل السنة والجماعة څخه یو او د خوارجو او نورو باطلو ډلوپه شان نه یو چې د ګناه کبیره په وجه یو څوک کافر ګڼو ځکه د تکفیر مسئله یو له خطرناکو مسایلو څخه ده او په دې باب کې باید ډېر احتیاط وشي البته دومره احتیاط هم نه چې په حق باندي خاموشه شو، همدا وجه ده چې نن ورځ په ښکاره خلک په جمهوریت او نورو طاغوتي نظامونو باندې فخر کوي او ښه په کلکه یې دفاع هم کوي او دې ته اسلامي جمهوریت هم وایي، وړاندي له دې چې خپلې موضوع ته راشو لومړی باید د جمهوریت په اړه لنډ معلومات لاسته راوړو:

د جمهوریت اساس او بنسټ په دې رامنځته شوی دی ترڅو دین او سیاست سره جلا کړي یعنې د جمهوریت په راتګ سره ټول هغه قراني قوانین او د اسلام مبارک دین هغه امور او احکام چي د هغوی په اړه په قران کریم کې ښکاره او صریح آیاتونه راغلي دي معطل پاته کیږي او په ټولنه کې دغه احکامات پرته له حکومت څخه بل څوک نشي عملي کوولای لکه: حدود،قصاص او...نو یو حکومت هغه وخت اسلامي شمیرل کیږي کله چي خپل قانون قران وګرځوي نه داچې قانون جوړول په پارلمان کي د رایو په اکثریت سره وي.

### د جمهوریت تعریف:

.The government of the people by the people for the people

دخلکو حکومت دخلکو په واسطه دخلکو لپاره

نو له پورتني تعریف څخه څرګنده شوه چې په پورتنیو نظامونوکې ټول قوانین دانسان لخواجوړیږي ، چیرته چې همدغه حکومتونه رامنځته شوي نوهمیشه یې الهي قوانین تر پښولاندې کړي دي او په یاد نظام کې په پارلمان کې د رایو په اکثریت سره قوانین جوړیږي او بیا د توشیح لپاره د وخت جمهور رئیس ته لیږل کیږي

مګربل طرف ته دنړۍ سترخالق الله تعالی په قران مجید کې فرمايي :**إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ**...الی آخره(سورة الأنعام)

**ژباړه:** د فیصلې ټول واک د الله ﷻ دی هماغه حق بیانوي او هماغه ډېر ښه فیصله کوونکی دی.

یعنې زموږ او تاسې فیصله به دالله ﷻ په کتاب،احادیثو او په هغه فقه چې مجتهدینوامامانو له قران مجید او احادیثو څخه راویستلې ده وي.

همدارنګه الله تعالی په قران مجید کې د سورة مائدې په ۴۴ ایت کې فرمایې :

**ومن لم يحكم بما انزل الله فأولئك هم الكافرون.**

**ژباړه:**چاچې دالله په را لیږل شوي قانون فیصله ونه کړه پس نودغه خلک کافران دي. له پورته آیت مبارک څخه لاندې امام ابن کثیر رحمه الله پخپل تفسیر کې امام السدي رحمه الله تفسیر په دې ډول رانقلوي: ومن لم يحكم بما انزل الله فتركه عمدا فهو من الكافرين به: یعنې چا چې قصدا د الله تعالی په قانون پریکړه کول پریښودل نو هغه له کافرانو څخه ده همدارنګه د همدې آیت مبارک لاندې ابن کثیر رحمه الله د ابن جریر رحمه الله تفسیر هم رانقلوي هغه دا وايې چې پورته آیات مبارکه د هغو مسلمانانو په اړه ده چې د الله تعالی په قانون باندې پریکړې نه کوي.

یو وخت له حذیفه بن الیمان رضي الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې پورته آیت مبارک خو د یهودیانو په اړه نازل شوی دی نو حذیفه رضي الله عنه ورته په جواب کې داسې وویل:

**نعم اخوتکم بنواسرائیل ان کان لکم کل حلوولهم کل مر؟**

له بني اسرايلو او يهودو سره مو څنګه ښه وروروليي پيل کړې ده که چيرته خوږ شيا وي هغه به ستاسو وي او که تريخ شی وي بيا به د هغوی په اړه وي؟
يعنې کومو آياتونو کې چې زيری وي او د نعمتونو او جنتونو په اړه وي هغه به ستاسو وي او په کوم آياتونو کې چې وعيد ذکر شوی وي هغه به بيا د يهودو او کفارو په اړه وي؟

د پورته آيت مبارکه لاندې شهيد شيخ خالد حقاني الحنفي«تقبله الله» د شيخ سفربن عبدالرحمن الحوئس او شيخ الحديث والقران محمد بن ابراهيم کتابونو په حواله سره ليکي: چې ځيني علماء کرام فرمايي: په پورته آيت مبارکه کې له کفر څخه کفر دون کفر مراد يعنې څوک چې دالله تعالی په قانون پريکړه نه کوي دغه ګناه کبيره ده او هغه کفر نه ده چې انسان له اسلام څخه خارج کړي نو ددې په ځواب کې ليکي: په جمهوريت او نورو طاغوتي نظامونو کې د اعتقادي کفر مسئله لاندې صورتونه لري:

**د اعتقادي کفر لومړی صورت**: چې د الله تعالی قانون ته پريکړې نه وړي او بل کوم قانون ته پريکړې وړي او د الله تعالی له قانون څخه هم انکار وکړي او يا له دې څخه انکار وکړي چې د الله تعالی په قانون پريکړه کول واجب نه دي ځکه دا خبره خو ښکاره له نصوصو سره په ټکر کې ده چې الله تعالی فرمايي: **وان احکم بما انزل الله**: او تاسو د الله تعالی په قوانينو پريکړې وکړئ!

**د اعتقادي کفر دوهم صورت**: چې يو څوک ووايي زه د الله تعالی قانون منم خو اوسنی قانون ورڅخه بهتر دی او يا داسي ووايي چې اوس پخوانی وخت نه دی دنيا ډېر زيات پرمختګ کړی اوس وخت د نويودی نو په دې هم سړی کافر کيږي ځکه

د مخلوق قانون یې د خالق په قانون بهتره او غوره وګڼلو همدارنګه الله ﷻ په قرانکریم کې فرمایي: **ومن أحسن من الله حکما (الایه)**
ژباړه: او څوک ښه دي له الله تعالی څخه د حکم او قانون په اعتبار سره یعنې هېڅوک له الله تعالی څخه د قانون په اعتبار غوره او بهتره نشته مګر داسي خلک وضعي قوانین د الله تعالی تر قانون هم غوره ګڼي کوم چي له آیات مبارکه سره په ښکاره ټکر دی.

**د اعتقادي کفر دریم صورت:** چي دالله تعالی قانون څخه پرته په بل قانون پریکړې کوي او ورسره دا هم وایي چي د الله تعالی قانون هم ورڅخه غوره او بهتره هم ده او دا هم وایې چې د الله تعالی په قانون پریکړې کول واجب هم دي خو دغه بل قانون ورسره یو شان دی نو په دې سره هم کفر لازمیږي ځکه د بنده او مخلوق قانون یې د الله تعالی له قانون سره مساوي او یوشان وګڼلو او همدارنګه الله ﷻ فرمایي: **الحمد لله الذی خلق السموات والارض وجعل الظلمت والنور ثم الذین کفروبربهم یعدلون (سورة الأنعام ۹۷-۹۸)**
یعنې هغه خلک هم کافران د ي چې هغوئ د خپل رب سره مساوات جوړوي، نو د الله تعالی له قوانینو سره نور قوانین برابرول پخپله یو ښکاره کفر دی.

**د اعتقادي کفر څلورم صورت:** چې د الله تعالی قانون څخه پرته په بل قانون پریکړې کوي او ورسره دا هم وایي چي د الله تعالی قانون هم ورڅخه غوره او بهتره هم ده مګر زموږ په قانون هم پریکړې جایزې او روا دي نو دا په اعتقادي کفر کې راځي ځکه د امت فقهاوو په دې اجماع کړې ده: **من حلل الحرام او حرم الحرام فقد کفر بالاجماع:** یعنې چې حلال حرام وګڼل او حرام یې حلال وګڼل نو د امت په اجماع سره هغه کس کافر کیږي ځکه د الله تعالی څخه پرته په نورو قوانینو پریکړه کول

حرام عمل دی او څوک يې چي حلال ګڼي نو د امت په اجماع سره هغه په کفر کې داخليږي.

**پنځم صورت**: دا صورت له ټولو څخه عام او ټولو ته شامل صورت دی هغه داچې د شريعت سره يې په ښکاره عناد کړی دی هغه په دې ډول سره چي د بشر په لاس د جوړ شويو قوانينو لپاره يې عداالتونه او محکمې جوړې کړې دي او د هغه لپاره يې بيا کتابونه جوړ کړي دي او د شريعت سره په مقابل کې د وضعي قوانينو د عملي کولو لپاره مختلف مراکز جوړ کړي دي لکه څنګه چي نن ورځ غربي پوهان په دې معترف دي چي جمهوريت اوس وخت کې يو نوی دين دی همدارنګه د غه ټول طاغوتي قوانين د شريعت په مقابل کې د يو نوي دين په شکل راڅرګند شوي دي چي نوی او ماډرن اسلام خلکو ته ورښيي او هغه په دې ډول سره چي دين به په سياست کې کار نلري او د قرانکريم حدود به نه جاري کيږي لنډه دا چي دين او سياست به سره جلا وي او داسي عقيده لرل کفري عقيده ده ځکه سياست د قرانکريم د احکاماتو يوه لويه برخه تشکيلوي او که چيرته اسلام او سياست سره بيل شي نو د قرانکريم زياتره قوانين به بې عمله پاته شي لنډه داچي د جمهوريت او يا کوم بل طاغوتي نظام په هر فرد د افرادو د کفر فتوا په جلا جلا ډول په هر يو کس بايد نشو ورکولای او دا ځکه ځيني پکې داسي افراد دي چې هغوی فاسقان دي عقيدوي کفر کې داخل شوي نه دي او دا هغه خلک دي چي جمهوريت يو کفري نظام ګڼي او په دې نظام پريکړه هم ناروا ګڼي او ورتګ هم غير مشروع او حرام عمل ګڼي مګر د يو دنيوي لالچ او ګټې په خاطر دې نظام ته ورشي داسي کسان په عمل کې ډېر کم دي مګر که چيرته داسي خلک په عملي ډول ددې کفري نظام په دفاع کې د مجاهدينو په وړاندې راووځي بيا د دوی وژل هم داسي لازم دي لکه د هغه نورو طاغوتيانو وژل چي واجب دي ځکه دې وخت کې دوی په عملې ډول د

کفري نظام دفاع ته راوځي البته دغه نظام په پورته دلايلو سره يو کفري نظام دی او همداسي نظام کفارو ته يو خوښ نظام دی او په داسي يو نظام کي کار کول عيني همداسي دي لکه يو څوک چې د کفارو سره په يو صف او يو لښکر کې کار کوي، د داسي نظام ملاتړ د کفر ملاتړ دی او کوم تش په نوم مسلمان چي د داسي يو نظام دفاع کوي هغه د کفري نظام دفاع کوونکی شميرل کيږي او داسي يې وژل جايز دي لکه څنګه چي د يو کافر وژل روا او جايز دي ځکه الله ﷻ فرمايې:

**ومن يتولهم فهو منهم ان الله لا يهدي القوم الظالمين «سورة المائده: ٥١»**

او په تاسو کې چي څوک له دې کفارو سره دوستي کوي بيشکه هغه کس له دې کفارو څخه شميرل کيږي، امام قرطبي رحمه الله ددې آيت مبارک لاندې ليکي: فانه منهم بين تعالى ان حكمه كحكمهم: يعنې الله تعالى ددې بيان وکړو څوک چي ددې کفارو دوستې کوي بيشکه ددې مسلمان هم داسي حکم دی لکه ددې کافر چې څنګه حکم دی يعنې لکه څنګه چي ددې کافر وژل درته جايز دي همدرانګه ددې اسمي مسلمان وژل هم همداسي درته روا دي او اوس وخت کې دغه ټول طاغوتي او جمهوري نظامونه کفارو ته خوښ دي او که چيرته دوی له کفارو سره هيڅ ډول دوستي هم ونلري دغه نظام کفري نظام دی او د الله تعالى د دين په مقابل کې جوړ شوي نظامونه دي چي په مسلمانانو باندي يې ختمول او رانسکورول لازم او فرض دي او همدرانګه همدغه طاغوتي اوجمهوري نظامونه د اسلامي خلافت په وړاندې تر ټولو ستر خنډ دي ځکه دوی وايي چي د خلافت آواز پورته کول جرم دی او په دې نوم جهاد کول د نورو هېوادونو په داخلي چارو کې لاسوهنه کول دي او د همدې په خاطر يې د اسلامي هېوادونو په منځ کې پولې او سرحدونه هم رمنځته کړي دي اوسره له دې چې په مسلمانانو باندې د خلافت منځته راوړل فرض

دي نو ترڅو پورې چې همدغه ظاغوتي او کفري نظامونه مسلمانانو نړولي نه وي ترهغو د خلافت او اسلامي نظم راتګ نا ممکن او له صفر سره ضرب دي.

**عزتمندو ورونړو!**

کوم قانون چي له قران او احادیثوسره په ټکر کې نه وي،د هغه جوړل دعامه مصلحتونو لپاره فرق نه کوي ،مګر دغه جمهوري حکومتونو ته ملګري ملتونو او نړیوالو ټولنو یو لړ داسي اصول وضع کړي ترڅو چې یو حکومت هغه کفري او له قرانکریم سره مخالف اصول پرځان منلي نه وي ترهغو داسي حکومت په رسمیت هم نه پیژندل کیږي تردې چي داسي حکومت ته د جمهوریت نوم هم نشي ورکول کیدای ترڅو یې چې دغه اصول په ځان منلي نه وي،لکه: دقران کریم دحدودو ساقطول، دښځې امارت او ولسمشري،په سیاسي،اجتماعي،اقتصادي او تعلیمي ډګر کې دنارینه او ښځو د اختلاط او آزادۍ حق ورکول،د قصاص نه جاري کول،د هیواد بانکي سیستم آزادانه په سودي ډول پریښودل،د دین آزادي،د ښځینه او نارینه ترمنځ په ټولو حقونو کې مساوات او...دي

اوس په ټوله نړۍ کې په اسلامي هیوادونوکې دکفارو دغلبې له وجې جمهوري حکومتونه قایم دي لکه دپاکستان اسلامي جمهوریت ،دایران اسلامي جمهوریت ، دتاجکستان اسلامي جمهوریت اوداسي نور او که چیرته د جمهوریت کلمه ورسره ذکر هم نه وي لکه اوس وخت کې له زیارته عربي هیوادونو سره هلته هم په اسلامي قانون پریکړه نشته بلکه ورځ تر بلې په کومو اسلامي قوانینو چي پخوا پریکړه کیدله هغه لغوه کیږي لکه څه وخت وړاندې چې د سعودي حکومت د غله د لاس قطع کولو حد لغوه کړ او همدرانګه د شراب خانو ته پکې اجازه ورکول شوه او... دا ټول حکومتونه د طاغوت مثالونه اوبیلګې دي چي آلهي قوانین یې لغوه کړي دي.

او له جمهوري حکومتونو سره يې د اسلام کلمه دخلکو د خطا ايستلو لپاره ورسره ذکر کوي مګر اصل کې اسلام او جمهوريت هيڅکله سره يوځای کيدلای نشي او داسي مثال لري لکه يوڅوک چې اور او اوبه په يو لوښي کې سره يوځای کوي ځکه د جمهوريت اصول په مکمل ډول له ښکاره آياتونو سره په ټکر کې دي او په اسلامي هېوادونو کې دغه د کفارو ګوډاګيانو بيا د مسلمان ولس د خطا ايستلو لپاره داسي په اساسي قانون کې داسي مادي په سر کې راوړي چې لوستونکی کس په دې باوري کوي چې دغه اساسي قانون اسلامي ده مګر وروسته اساسي قانون ته يو لړ داسي مادې ور داخلوي چې وړاندي ليکل شوي اسلامي ماده عملي کولو ته نه پرېږدي او هغه اسلامي ماده د اساسي قانون پرمخ سپينه پاته کيږي او عمل وربانديي نه کيږي لکه د پاکستان د جمهوري حکومت د اساسي قانون د لومړي سر ماده په داسي ډول سره ده چې اعلی سيادت او حکم به دالله ﷻ وي او د اسلام د مبارک دين په خلاف به کوم قانون او ماده نه عملي کيږي مګر وروسته يې داسي مادې ور زياتي کړي دي او داسي شرطونه يې د اسلامي قوانينو د عملي کيدو لپاره راوړي چي ټول قراني احکامات او قوانين يې د عمل له ډګره رامحدود کړي ډي،لکه موږ ټولو په خپلو سترګو وليدل چې پاکستان د اسلام په نوم آزاد شو مګر له هماغه وخت څخه يې تراوسه پورې اسلامي نظام قايم نه کړ او نه يې قراني حدود جاري کړل.

## هغه علماء چې شريعت د ووټونو له لارې جاري کوي

ځيني داسي علماء شته چې خپلو عوامو ته په دوکه ورکولو سره دا خبره کوي چې موږ ته ووټ راکړئ او موږ غواړو د ووټ له لارې شريعت جاري کړو او د دوی دغه خبره په مکمل ډول باطله ده ځکه الله ﷻ

وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ(سورة الانعام:۱۱٦)

**ژباړه:** او [اې محمده ﷺ که ته د هغو خلکو د اکثریت په خوله کار وکړې چې په ځمکه کي میشت دي، نو هغوی به تا د الله له لارې واړوي. هغوی خو یوازي په گومان روان او د انګېرنو برابروونکي دي. او د ووټ له لارې شریعت نشي جاري کولای ځکه د ځمکي پرمخ له نیکو خلکو څخه بد ډېر دي همدا وجه ده چي الله تعالی فرمایي: چې که چیرته ته په ځمکه کې د ډېرو خلکو په خوله کار وکړې نو د الله تعالی له لارې به دي واړوي،او دا چي په ځانګړي ډول سره په اوس وخت کې تر نیکو خلکو فاسقان ډېر دي او همدغه فاسقان نیکانو اوعلماوو ته رایه او ووټ نه ورکوي نو د رایو په اساس فاسقان خلک حکومت ته رسیږي او بل که چیرته همدغه علماء چي په هر ډول وي چې د ووټ له لارې ځان واک ته ورسوي بیا هم دوی شریعت نشي جاري کولای ځکه د حکومت ډول یې جمهوریت دی کوم چې د شریعت نفاذ خو پریږده بلکه د الله تعالی راغلي قوانین هم ظلم بولي او یوې اوږدې تاریخي تجربې هم دا وښودله چي علماء نشي کولای چي د ووټ له لارې شریعت جاري کړي او له کومي ورځې چي پاکستان آزاد شوی له هماغه ورځې ځیني علماء په جمهوري حکومت کې داخل شوي ترڅو د ووټونو له لارې شریعت جاري کړي مگر اتیا کلونه په پوره کیدو دي سره له دې بیا هم نه دوی د ووټونو له لارې شریعت جاري کړ او نه یې دومره وکولای شول چي د پاکستان کفري جمهورت په پارلمان کې له هغو بدبخته او اسلام دوښمنه قوانینو جوړولو څخه را ایسار کړي کوم چې همجنس بازی،لواطت او فحاشی په اړه شپه او ورځ تصویبیږي،اوس خو مو اتیا کاله مبارزه وکړه ترڅو د ووټونو او انتخاباتو له لارې شریعت جاري کړئ مگر که چیرته ۱۰۰۰ زر کاله په همدې ډول مبارزه هم وکړئ بیا به هم شریعت د ووټونو له لارې

جاري نه کړئ،همدغو علماوو ته دا ویل غواړم چې د الله تعالی په خاطر څومره مو چې دغه متدین ولس تېر ایستلو همدومره بس ده نورې اوږدې ترخې تجربې بیا بیا مه کاروئ او راشئ ددې کفري نظام په وړاندې په مسلحانه جهاد کولو سره خپل مسؤلیتونه ادا کړئ او د امت ویده ځوانان په خپلو جرارو وعظونو سره راویښ کړئ او ځانونه ددې آیت مصداق وګرځوئ: **يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى الْقِتَالِ** **ژباړه:** اې پیغمبره! مؤمنان د جهاد لارې ته وهڅوه. او دا چې اوس پیغمبر ﷺ نشته نو همدا تاسو یې وارثان یاست او تاسو به خپل مسؤلیت سرته رسوئ او په دې ویده ملت کې د محمد ابن قاسم او صلاح الدین ایوبي په شان ډېر ځوانان شته مګر خوځولو ته ضرورت لري او خدای مه کړه که تاسو خپل مسؤلیت ادا نه کړ د همدې ټولو بدمرغیو عاملین به هم تاسو یاست.

## د جهاد ډولونه

د جهاد مبارکه فریضه دوه حالتونه لري: (۱) فرض کفایي (۲) فرض عین

**لومړی حالت:** کله چې مسلمانان او د هغوئ خاوره او سیمې ازادې وي او د مسلمانانو کوم ښار اشغال شوی نه وي او نه د مسلمانانو کومه خور له کفارو سره اسیره وي نو په دې وخت کې جهاد ددې لپاره کول ترڅو کفري هېوادونو ته د اسلام مبارک دین ورسیږي او د الله جل جلاله کلمه نوره هم لوړه شي نو فقهاء کرام فرمایي: چې په دې وخت کې د جهاد کول فرض کفایي دي یعنې که چیرته د مسلمانانو یوه ډله په جهاد کې مصروفه وي نو د باقي مسلمانانو غاړه خلاصه ده او دې جهاد ته اقدامي جهاد وایي،مګر که چیرته کفارو د مسلمانانو په یو ښار باندې یرغل وکړ او یایې مسلمانې خویندې اسیرانې کړې نو بیا د جهاد حکم له کفایي څخه فرض عین ته

اوړي او جهاد داسي فرض عين ګرځي لکه لمونځ او روژه چې بيا د مور،پلار او امير اجازې ته هم ضرورت نه پاته کيږي بلکې فقهاء کرام فقط دا شرط ورته ليکي:

**اذاطاقوا القتال،**

**ژباړه:** په ټولو هغو خلکو فرض عين ګرځي چې هغوی جنګ او جهاد کولای شي يعنې فقط هغه خلک چې هغه معذور دي لکه: ګوډ،ړوند او...کوم چي جنګ نشي کولای پرته له دې په ټولو فرض عين ده او دې جهاد ته دفاعي جهاد وايي او نن ورځ کفارو او سيکولرانو د مسلمانانو يو ښار نه بلکه په زرګونو ښارونه،او په لسګونه هيوادونه اشغال کړي دي لکه: هسپانيا،پرتګال،فلسطين او ...او د مسلمانانو يوه خور نه بلکه په لسګونه زره معصومې پيغلې له کفارو سره اسيرانې دي نو د ټول امت د فقهاء کرامو په نزد په داسي وخت کې بيا لومړی ددې ښار په خلکو او که چيرته دوی کمزوري وو او يايې جهاد نه کولو نو بيا دې ښار ته په نږدې نورو مسلمانانو جهاد فرض عين کيږي او که چيرته دوی هم کمزوري شول او يايې جهاد قصدا نه کولو نو د جهاد حکم مخ په وړاندې ځي تردي چې د دنيا په ختيځ کې به د مسلمانانو يو ښار نيول شوی وي او يا به د مسلمانانو يوه خور له دوی سره اسيره وي مګر د جهاد حکم به د لويدځ په مسلمانانو ته رسيدلی وي او په هغوئ به هم جهاد فرض عين شوی وي او نن ورځ همدغه حالت دي ځکه ټول اسلامي هيوادونه پرته له افغانستان څخه يا خو د کفارو لخوا عملاً تر اشغال لاندې دي او که هلته کفار نظامي وجود نلري نو د دوی په لاس جوړ شوي کفري نظامونه او جمهوريتونه خو هلته خامخا وي او په ټولو مسلمانانو د اشغال او د کفري نظام راپرځول فرض عين دي او نن ورځ چي په اسلامي هيوادونو کې ځومره جهادي تحريکونه روان دي هغوئ ټول په دفاعي حالت کې دي ترڅو په اسلامي خاوره کې اسلامي نظام راولي او شريعت جاري کړي.

علامه کاساني رحمه الله په بدائع الصنايع کې په کتاب السير کې داسي عبارت ذکرکوي:

**اماان كان النفير عاماواماان لم يكن ...فاما اذاعم النفير بأن هجم العدو على بلدفهوفرض عين يفترض على واحد من احادالمسلمين لقوله سبحانه وتعالى:انفرو خفافاوثقالا(سورة التوبة،۴۱)[۳](وكذافى فتاوى الهنديه فى كتاب السير)**

يابه جهادته تگ عمومي وي يابه نه وي...که چيرته عمومي نه وو فرض کفايې ده اوکه عمومي وو يعنې دښمن په يو ښارباندې يرغل راوړی وو بيافرض عين ده، په هريو مسلمان باندي فرض کيږي له وجې ددي قول دالله تعالى:

**انفروخفافاوثقالاوجاهدوابأموالكم وانفسكم ذلكم خيرلكم ان كنتم تعلمون (سورة التوبة،۴۱)**

**ژباړه:** دالله په لارکې دلږسامان والا اودډېرسامان والاووځئ او جهاد وکړئ په سر او مال دغه ستاسولپاره غوره ده که پوهيږئ.

**يايهاالذين امنومالكم اذاقيل لكم انفروافى سبيل الله اثاقلتم الى الارض ارضيتم بالحيوة الدنيامن الاخرة فمامتاع الحيوة الدنيافى الاخرة الاقليل(الأيه)**

**ژباړه:** ای هغوکسانوچي ايمان موراوړی څه دي تاسولره کله چي تاسولره وويل شي چي دالله په لارکې ووځئ نو درانه شئ ځمکې ته آيا له اخرت څخه ددنياپه ژوندانه باندي خوشحاله ياست پس نه ده گټه د دنيايې ژوند په مقابله د اخرت کې مگر ډېره کمه ده.

**عجيبه نقطه:** دنيايې ژوند ته الله تعالى متاع وويل يو عالم وايې چې ماته د متاع سمه معنى نه وه معلومه نو يوې دښتې ته لاړم گورم چې دکوچيانو يوه خيمه ده يوې

---

[۱] (رواه مسلم،مشکاة المصابيح،مخ ۳۳۰)

ښځې لوښي مینځل نوخپلې مورته یې ورغږ کړ: **جاءالکلب واخذالمتاع**: سپی راغی او متاع (دلوښومینځلوټوټه) یې یو وړه،دغه عالم وایې چې ماته اوس معلومه شوه چې متاع څه ته وایې متاع هغه مرداره ټوټه څیرې ته وایې چې لوښي پرې مینځل کیږي.

## آیا په اسلام کې د مسلمانانو په منځ کې سرحدونه شته

د اسلام په مبارک دین کې د مسلمانانو په منځ کي سرحدونه نشته ټول مسلمانان د توحید کلمې په ویلو سره یو د بل وروڼه گرځي او د ټولو مسلمانانو خاوره یوه خاوره شمیرل کیږي او د یو مسلمان ناموس او عزت د ټولو مسلمانانو ناموس او عزت دی د همدې په اړه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمایې:

**إِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَأَنَا۠ رَبُّكُمۡ فَٱعۡبُدُونِ** (سورة الانبیاء:۹۲)

**ژباړه:** دغه ستاسي اُمت په حقیقت کې ایکي یو اُمت دی او زه ستاسې رب یم، نو تاسې زما عبادت وکړئ. په پورته آیت شریف کې الله تعالی ټول امت ته د واحد امت خطاب کړی دی کوم چي په واضح ډول دا څرگندوي چي اسلامي امت په خپل منځ کې کومه پوله او سرحد نلري او یوازي مسلمانان چي سرحد لري هغه فقط له کفارو سره او له کفري هېوادونو سره یې لري همدارنگه په یو حدیث مبارک کې راځي: **المؤمنون کجسد واحد...الخ (رواه المسلم)**

**ژباړه:** ټول مسلمانان د یو واحد بدن په څیر دي که چیرته په یو بدن کې یوه سترگه په درد راشي نو ټول بدن نا آرامه کیږي او که چیرته په یو بدن کې سر په درد راشي نو ټول بدن ورسره نا آرمه کیږي.

یعني د ټول امت په منځ کې د توحید د عقیدې تړون او پیوستون دی او د همدې واحدې عقیدې په وجه خپل منځ کې کومه پوله او سرحد نلري.

همدارنگه الله تعالی فرمایې:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا...الی اخره(سورة آل عمران:۱۰۳)
**ژباړه:** ټول یو ځای شئ، د الله رسۍ کلکه ونیسئ او تیت و پرك کېږئ مه، د الله هغه پېرزوینه در یاده کړئ چي پر تاسي یې کړېده: تاسي یو د بل دښمنان وئ، هغه ستاسي په زړونو کښي مینه واچوله او د هغه په مهربانۍ او لوریښه تاسي سره وروڼه وروڼه شوئ، تاسي د یوې له اوره ډکي کندې پر غاړه ولاړ واست، الله څني وژغورلاست،په دغه شان الله خپلې نښانې تاسي ته څرګندوي، په کار ده چي په دغو نښانو سره تاسي ته د خپلي ژغورني سمه لاره په نظر درشي.
دا چي په تېر تاریخ کې مسلمانانو په ټوله نړۍ باندي خلافت کولو او د مسلمانانو په هېڅ کوم هېواد ا و خاوره به کفارو یرغل او تجاوز نشو کولای ستر لامل یې دا و چي مسلمانانو په خپلو منځو کې سرحدونه او پولې نه مطرح کولې او دا چې نن ورځ مسلمانان د ټولې نړۍ په سطحه ذلیله دي او هره ورځ په سلګونه مسلمانان د بي غیرتۍ په مرګ وژل کیږي ترټولو لوی لامل یې دادی چې کفارو او غربیانو په خپلو منځونو کې سرحدونه اوپولې لرې کړل او د مسلمانانو په منځ کي یې د قوم پرستۍ اووطن پرستۍ تخم وکرلو او مسلمانان یې په داسي ډول سره بیل کړل چي د یوهېواد مسلمانان د خپل ګاونډي هېواد مسلمانانو ته پردي او خارجیان وایي او جمهوري حکومت هم ورڅخه ویزه او پاسپورت غواړي یعنې په یواسلامي هېواد کي یو مسلمان د ټیکس او مالیې په ورکولو سره وخت تېروي کوم چي په بشپړ ډول سره د اسلام له مبارک دین سره په ټکر کې ده ځکه د اسلام په مبارک دین کې کله چي ذمي کافر اسلامي خاورې ته دننه شي نو اسلامي حکومت به ورڅخه جزیه اخلي او اوس وخت همدغه کفري جمهوریتونه د قوم پرستۍ په وجه له خپلو مسلمانانو وروڼو څخه په خپله اسلامي خاوره کې جزیه اخلي او نن ورځ ټول کفار مسلمه امت ته یو شوي دي او خپل منځ کې یې پولې او سرحدونه لرې کړي دي لکه د ټولې لویې وچې امریکا

کوم چې ۵۰ پنځوس هېوادونه پکې دي ټول سره یو دي او یو واحد ولسمشر لري او خپل منځ کې ویزه او پاسپورت ته اهمیت نه ورکوي لکه مخکې به د ټولو مسلمانانو یو اتفاق او یو امیر و ځکه خو مسلمانان هم د نړۍ په سطحه یو عظیم او سوپر طاقت شمیرل کیدل او په عثماني خلافت کې به امریکا مسلمانانو ته جزیه ورکوله مگر نن ورځ هماغه د مسلمانانو تاریخ کفارو او غربیانو را ژوندی کړی مگر مسلمانان غافل دي.

همدارنگه الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي:

**يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ** (سورة الحجرات: ۱۳)

**ژباړه:** اې خلکو! موږ تاسي له یوه نارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړئ او بیا مو تاسي قومونه او قبیلې وگرځولئ، تر څو چي تاسې یو او بل سره وپیژنئ. په حقیقت کښې د الله په وړاندې ستاسي څخه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوك دی چي په تاسي کښې تر ټولو زیات پرهېزگار وي. په باوري ډول الله جَلَّ جَلَالُهُ په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.

نو په دې دنیا کې د مختلفو ژبو،مختلفو نژادونو او مختلفو قومونو پیدایښت ددې لپاره نه دی شوی چي انسانان په خپل منځ کې یو پر بل افتخار پرې وکړي چې زه خو په دې غوره او بهتره یم چي زه پښتون یم یا اردو زبان،فارسي زبان او یا هم عربي زبان یم او یا په دې څوک افتخار وکړي چې زه خو پاکستانی یم ځکه تر تاسو غوره یم او یا دا چې زه خو افغانی او یا هم عربي یم ځکه له نورو څخه غوره یم لکه نن ورځ چي زموږ او تاسو ځوانان په خپل منځ کې د هېواد پرستۍ او وطن پرستۍ په وجه د خپل گاونډي مسلمان ورور سره په دې کرکه او نفرت لري چې

زمونږ د هیواد نه دی.

لوی مفسر امام ابن کثیر رحمه الله د پورته آیت مبارک لاندې یو حدیث مبارک راوړي:

**عن أبي نضرة قال: حدثني أوحدثنا من شهد خطب رسول الله - صلى الله عليه وسلم بمنى في وسط أيام التشريق وهو على بعير فقال: أيها الناس ألا إن ربكم واحد وإن أباكم واحد ألا لا فضل لعربي على عجمي ولا عجمي على عربي ولا لأسود على أحمر ولا لأحمر على أسود إلا بالتقوى ألا هل بلغت؟- قالوا نعم قال- ليبلغ الشاهد الغائب. وفيه عن مالك الأشعري قال: قال رسول الله - صلى الله عليه وسلم -: إن الله لا ينظر إلى أحسابكم ولا إلى أنسابكم ولا إلى أجسامكم ولا إلى أموالكم ولكن ينظر إلى قلوبكم فمن كان له قلب صالح تحنن الله عليه وإنما أنتم بنو آدم وأحبكم إليه أتقاكم.**

**ژباړه:** له حضرت ابن نضرة رضي الله عنه څخه روایت دی او وایي: ماته یو له هغو صحابه کرامو څخه حدیث بیان کړو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبې ته حاضر شوی و د تشریق په منځنیو ورځو کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په منا کې و په داسې حال کې چې په اوښ سپور و نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اې خلکو خبردار بیشکه ستاسو رب یو دی او ستاسو پلار هم یو دی خبردار هیڅ فضیلت عربي لره نشته په عجمي باندې او نه د عربي کوم فضیلت او غوره والی شته په عجمي باندې او نه سور فضیلت لري په تور باندې او نه تور فضیلت لري په سور باندې مگر غوره والی او فضیلت چې دی هغه په تقوا او پرهیزگاري کې دی! آیا تاسو ته دغه خبره ورسیده؟ ټول وویل هو نو بیا یې وفرمایل: حاضرین دې دغه بیان غایبینو ته ورسوي همدارنگه مالک اشعري رحمه الله روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل چې الله تعالی ستاسو اندازې ته نه گوري او نه ستاسو نسبونو او نه ستاسو بدنونو او نه ستاسو مالونو ته گوري مگر الله جل جلاله چې گوري هغه ستاسو زړونو ته گوري د هرچاچې تقوا داره او صالح زړه و نو په

هغه د الله جل جلاله رحم شوی دی او بیشکه تاسو ټول د آدم علیه السلام اولاده یاست او بهتره په تاسو کې تقوا داره کس دی.

## آیا جهاد په اوس وخت کې فرض عین دی؟

د فقهي په مشهور کتاب ردالمحتار کې علامه ابن عابدین الشامي رحمه الله په داسې ډول عبارت راوړي: **وفرض عين أن هجموا على ثغر من ثغور من المسلمين فيصير فرض عين على من قرب منهم وهم يقدرون على الجهاد ونقل صاحب النهاية ان الجهاد اذا كان النفير انما يصير فرض عين... فانه يفترض على من يليهم فرض عين كالصلاة والصوم لايسعهم تركه ثم وثم الى ان يفترض على جميع اهل الاسلام شرقا وغربا على هذا التدريج**[4]

**ژباړه:** کله چې دوښمن حمله راوړي د مسلمانانو په یو سرحد باندې نو جهاد فرض عین گرځي په هغو مسلمانانو چې دوی ته نږدې وي یعنې لومړی په نږدې مسلمانانو جهاد فرض عین کیږي که چیرته دوی ناتوانه شول او یایې قصداً جهاد نه کولو نو بیا د جهاد د فرضیت حکم وړاندې ځي تردې چې د جهاد د فرضیت حکم له مشرق څخه مغرب ته ځي او په ټول اهل الاسلام باندې جهاد فرض عین گرځي او داسې فرض عین گرځي لکه لمونځ او روژه.

همدارنگه علامه نجیم رحمه الله فرمایي: **وفرض عين ان هجم العدو فتخرج المرأة والعبد بلا اذن زوجها وسيده لان المقصود لايحصل الا بأقامة الكل فيفترض على الكل... وهكذا ألى ان يجب على جميع اهل الاسلام شرقا وغربا**[5]

---

[4] (ردالمحتار کتاب السیر)

[5] (البحرالرائق )

**ژباړه:** او کله چې دوښمن د مسلمانانو په یو ښار باندې حمله وکړي نو جهاد فرض عین ګرځي نو ښځه به د خپل خاوند له اجازې پرته او غلام به د خپل مولا له اجازې پرته جهاد ته ځي ځکه دلته مقصود نه حاصلیږي مګر هلته چې ټول مسلمانان جهاد وکړي نو ځکه په ټولو باندې جهاد فرض عین کیږي او په همدې ډول تردې چې د مشرق او مغرب په ټول امت باندې او په ټول اهل الاسلام باندې فرض عین ګرځي.

شهید شیخ عبدالله عزام رحمه الله په خپل کتاب (فقه واجتهاد فی الجهاد) نومي کتاب کې لیکي له نن څخه ۶۰۰ کلونه پخوا په ۱۴۹۲م کال کې له کومه وخت راهیسې چې د مسلمانانو وروستی ښار غرناطه عیسویانو اشغال کړې ده له هماغه وخت راهیسې په ټول امت جهاد فرض عین ګرځیدلی دی

اوس وخت کې که چیرته موږ او تاسو وګورو زموږ او تاسو یو ښار نه بلکې په زرګونه ښارونه او په لسګونه اسلامي هیوادونه د کفارو له طرفه اشغال شوي دي لکه په اروپا کې د مسلمانانو دوه مهم هیوادونه هسپانیا او پرتګال د نمونې په ډول یادولای شو دا هغه دوه هیوادونه وو چې څه باندې ۸۰۰ کلونه پکې اسلامي نظام حاکم و مګر نن ورځ هلته څوک د اسلام نوم هم نشي پورته کوولای د قرطبي ښار جامع جومات جامع قرطبه او نور په لکونو جوماتونه په کلیساوو بدل شوي،همدارنګه د فلسطین حالات مو زموږ د سترګو وړاندې تیریږي مګر موږ امت بیا هم خاموش او ویده یو، یوازې په غزه کې یهودانو د امریکا او اروپا په ملاتړ کابو یولک پورې مظلوم او بې ګناه فلسطینیان د ښځو او ماشومانو په ګډون په شهادت ورسول مګر موږ اوس هم دیته انتظار یو چې جهاد به کله فرض عین کیږي،د ماشومانو د ساتنې نړیواله مؤسسه (سیف و چلنډر) د یو راپور په اساس یهودانو یوازې د اتو ۸ میاشتو په دوران کې چې په غزه کې له ۲۱۰۰۰ زرو څخه زیات ماشومان ورک کړي دي او دمرګ اوژوند پته یې نه لګي څوک تر ړنګ شویو دیوالونو لاندې او څوک له اسرایلو

سره اسیران دي البته دغه شمیرنه له هغې شمیرنې څخه جلا ده کوم ماشومان چي په دې ۸ میاشتو کي په شهادت رسیدلي دي په امت باندې به تردې لوی امتحان هېڅکله هم نه وي راغلی چي د امت زرگونه معصومي پیغلي خویندې مو له کفارو او له اسرایلو سره اسیراني وي او هغوی وحشیان دي د ځناورو په شان سلوک ورسره وکړي.

افسوس نن ورځ جهاد فرض عین دی مگر زموږ او تاسو شتمن بیا هم خپلې پیسې د جهاد په لاره کې نه لگوي او یایې کمې لگوي مگر خپلې پیسې بیا په نفلي حاجونو..........مصرفوي

## د پاکستان د اوسني جهاد شرعي حیثیت

د پاکستان د اوسنی جهاد لومړنۍ ابتدا د ۵۰۰ علماء کرامو په فتوا سره پیل شو او همدغه فتوا د هیچا له سترگو پټه پاته شوې نه ده بلکې بار بار د (وانا اپریشن کی متعلق علماء کی متفق فتوا) تر نوم لاندي خپره شوه،او ټولو علماء کرامو او شیوخ کرامو دا فتوا ورکړه چې د پاکستان فوځ له الله تعالی او له رسول الله ﷺ څخه باغیان دي او د هغوی وژل کیدل په باطله او حرامه لاره کې دي او د دوی مرگ د لاره شوکوونکو(قطاع طریقو) په شان دي او الحمدلله همدغه جهاد تر نن ورځې پورې ورځ تر بلې مخ په وړاندي روان دی،د همدې حق وینا په کولو سره د پاکستان کفري جمهوریت یو زیات شمیر لوی علماء کرام په شهادت ورسول،لکه د بیلگې په ډول کله چې ډاکټر مفتي نظام الدین شامزی(تقبله الله) د جمهوریت په خلاف فتوا ورکړه نو د خپلې مدرسې سره په څنگ کي یې په شهادت ورسولو او هر وخت چي کوم عالم دین چي د پاکستان د کفري نظام مخالفت کوي هغه د ترهگر په نوم یې شکنجه کوي او په پای کي یې په شهادت رسوي لکه د بیلگې په ډول د جامعه فریدیه مهتمم او د لال مسجد خطیب شهید مولانا عبدالله صاحب، شهید شیخ ولی

الله کابل ګرامي صاحب، شهید ډاکټر عادل خان صاحب،شهید مفتي نظام الدین شامزی صاحب،شهید مولانا یوسف لودیاني صاحب، شیهد شیخ الحدیث نصیب خان صاحب، شهید شیخ الحدیث مولانا سمیع الحق صاحب او غازي عبدالرشید صاحب او په زرګونه نور علماء کرام یې په همدې ډول اسیران او شهیدان کړل او قبایلو په سیمو کي یې په سلګونه مدرسې ویجاړې کړې همدارنګه د هېواد د معصومو خویندو د جامعه حفصه مدرسي طالبانې یې د فاسفورس په بمونو سره په شهادت ورسولې، دا چې د پاکستان د حکومت ډول جمهوریت دی او جمهوریت د حکومت یو له هغو ډولونو څخه ده چې د لومړي پیل څخه په غرب کي ددې لپاره رامنځته شو چې دین له سیاست څخه جلا کړي او دا خبره د لمر په شان موږ او تاسو ټولو ته د لمر په څیر څرګنده ده چې کله هم دین له سیاست څخه جلا شو نو هغه حکومت ته په هېڅ ډول اسلامي حکومت نشو ویلی ځکه د قرانکریم اکثریت احکامات چې په اړه یې ښکاره آیاتونه راغلي لکه حدود، قصاص او نور قوانین په جمهوري حکومت کې نشي عملي کیدلای ځکه ملګري ملتونه او غربیان ترهغو یو حکومت د جمهوریت په صفت په رسمیت نه پیژني ترڅو یې د جمهوریت نړیوال اصول په ځان منلي نه وي یو له هغو اصولو څخه دا دي چې حدود او قصاص به نه عملي کیږي دا خو پریږده چې په کوم جمهوري نظام به اسلامي قانون جاري بلکې نعوذباالله د الله ﷻ قوانینو او حدودو ته ظلم وایې.

## ایا د پاکستان حکومت ته اسلامي حکومت ویلی شو

نه هیڅکله نه موږ هغه وخت یو حکومت ته اسلامي حکومت ویلی شو کله چې دغه حکومت اسلامي قوانین او حدود جاري کړي لکه څرنګه چې ددې په اړه مفتي اعظم

عبدالرشید صاحب ددې په اړه په احسن الفتاوی کې لیکي: کله چي کوم حکومت اسلامي احکام نافذ نه کړي نو دغه حکومت اسلامي حکومت نه ده.[٦]

مفتي نظام الدین شامزي صاحب په خپله فتوا کې لیکي: کوم منافق «پاکستان» چي په موږ باندي مسلط دی ترټولو مخکي باید دده په خلاف مسلح جهاد وشي زه یوازي د قلم جهاد نه یادوم او زه یوازي د ژبې جهاد نه یادوم بلکې موږ موږ باید ډېر څه وکړو«یعنې موږ باید یوازي په قلم او ژبه جهاد ونه کړو بلکې له دې سره سره باید مسلح جهاد وکړو»

فقیه العصر عارف بالله مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد فرید(نورالله مرقده) هم د پاکستان د روان مقدس جهاد په اړه فتوی ورکړې او د فقهې د مشهورې (الفتاوی الکاملیه) عبارت یې د دلیل په ډول ذکر کړی دی.

همدارنګه شهید مولانا یوسف لودیانوي رحمه الله په خپله فتاوی کې لیکي: طالبان کوم چي د اسلامي نظام د قیام لپاره جنګیږي دوی په حقه دي او د دوی په مقابل کې (د پاکستان حکومت) د باغیانو حکم لري.[٧]

**نوټ:** یو حکومت په دې سره اسلامي نه ګرځي چي د هغه حکومت تر تسلط لاندي مسلمانان اوسي که چیرته په دې سره کوم حکومت اسلامي ګرځي نو بیا خو باید حکومت ته هم اسلامي حکومت وویل شي ځکه هلته د مسلمانانو نفوس د پاکستان د مسلمانانو تر نفوس هم زیات دی او که چیرته تش د مسلمانانو په وجود سره یو حکومت اسلامي جوړیږي بیا خو په غرب او امریکا کې هم ډېری هېوادونه شته چي

---

[٦] «احسن الفتاوی ج:٦ ص:٢١»

[٧] (اپ کی مسایل اور ان کا حل،ص:٥٣٥)

زيات شمير مسلمانان لري نه داسې هېڅکله نه ده بلکې هغه وخت به يو حکومت اسلامي بلل کيږي کله چې د قرانکريم قوانين جاري کړي

## د پاکستان د کفري جمهوريت د کفر يو څو نموني

**لومړۍ بيلګه:** دا چي د پاکستان د حکومت ډول جمهوريت دی نو وخت په وخت پکې داسي قوانين پاس کيږي کوم چي په بشپړ ډول سره له قران او د اسلام له مبارک دين سره په ټکر کې دي لکه په ۲۰۰۷م کې چي د پاکستان کفري جمهوريت د (حدود ارډنينس) تر نوم لاندې قراني حدود او تعزيرات معطل اعلان کړل او د هغوئ پرځای يې په پارلمان کې د رايو په اکثريت سره چي کوم قوانين جوړ شوي وو ور زيات کړل.(لاو ۲۵ برس کا حدود ارډنينس:۲۰۰۷ م/ ص:۱۲۹٦)

**دوهمه بيلګه:** په ۲۰۰۸ م کال کي د رايو په اکثريت سره په پارلمان کې د هم جنس پرستۍ د جواز قانون تصويب شو او زموږ او تاسو د اهل السنة والجماعة د متفقي عقيدې په اساس لکه څنګه چي د عقايدو په مشهور کتاب شرح العقايد النسفي کې هم راځي چې د کوچنۍ ګناه په حلال ګڼلو سره مسلمان کفر ته وځي نو د کبيره ګناه به حلال ګڼلو سره چي هغه هم جنس پرستي ده څنګه به هغه حکومت کفر ته نه وځي او کوم فوځيان او پوليس چې دداسي کفري نظام حمايت کوي د هغوی ايمان به په کوم حال کې وي او په خلاف به يې جهاد څنګه نه وي فرض عين؟

**دريمه بيلګه:** د پاکستان د جمهوريت په اساسي قانون کي په شلم اصل کې داسي راځي: (الف: هر ښاري دا حق لري چې د خپل دين فرايض ادا کړي او خپل دين ته دعوت او پرمختګ ورکړي) داچي په پاکستان کې يو څه شمير عيسويان،هندوان او د نورو دينونو پيروان هم شته نو په همدې ماده کې د پاکستان جمهوريت خپلو ټولو اتباعو ته دا اجازه ورکوي چي خپل دين ته نور خلک را دعوت کړي او همدغه ماده يې د اسلام مبارک دين سره په بشپړ ډول په ټکر کې ده ځکه د اسلام په مبارک

دین کې به اسلامي حکومت ذمیانو ته د اوسیدلو حق او نور حقوق ورکوي مګر دا حق به هېڅکله هم نه ورکوي چې خپل دین او مذهب ته نور خلک دعوت کړي،او د همدې اصل له وجې موږ او تاسو وینو چې په پښتو ژبه کې هم داسي رادیو ګاني په پاکستان کې شته چې په ښکاره سره خلک عیسویت ته دعوت کوي او د عیسویت درسونه ورکوي او جمهوریت ددې پرځای چې د اسلام حکم پرځای کړي ددا سي خلکو او ډلو ملاتړ کوي او دغه د دوی حق او د بیان آزادي یې بولي او همدغه وجه ده چې په پاکستان کې ورځ تر بلې مو د مسلمه امت ځوانان عیسویت ته اوړي.

## آیا اوس وخت کې د جهاد لپاره د مور، پلار او یا امیر اجازې ته ضرورت شته؟

داچي دټولو فقهاء کرامو ترمنځ دا اتفاقي خبره ده چې کله په مشرق یعنې د نړۍ په ختیځ کې د مسلمانانو یوه لویشت خاوره اشغال شي نو په ټول امت جهاد تر هغه وخته فرض عین دی ترڅو چې هغه خاوره آزاده شوې نه وي مګر اوس وخت کې په مشرق او مغرب کې د مسلمانانو ځمکې نیول شوې دي یاخو عملا اشغال شوې دي او یا هلته د کفارو د خوښې جمهوري او یاهم طاغوتي نظامونه حاکم شوي دي او په هسپانیه،پرتګال،ختیځ ترکستان(اوسنی د چین سنکیانګ نومي آیالت)،فلسطین او نورو مختلفې اسلامي خاورې نه یوازې داچې د کفارو له طرفه نیول شوې دي بلکې په خاورو کې په زرګونو جوماتونه په کلیساوو،مارکیټونو، ګودامونو،شراب خانو د نڅاوو په مرکزونو بدل شوي دي نن ورځ یوه لویشت خاوره نه بلکې په لسګونو هېوادونه اشغال شوي دي مګر بیا هم جهاد فرض عین نه دی؟ او ټول فقهاء کرام فرمایي: کله چې د نړۍ په ختیځ کې یوه مسلمانه خور له کفارو سره اسیره شي نو شرقا او غربا د نړۍ په ټولو مسلمانانو جهاد تر هغه وخته فرض عین دی ترڅو چي

دغه یوه مسلمانه خور آزاده شوې نه وي مګر افسوس نن ورځ بیا هم جهاد فرض عین نه دی سره له دې چې د امت زرګونه خویندې له کفارو سره اسیرې دي او د هغوئ د وحشت او شهوت وسیلې ګرځیدلې دي! نو داچې اوس وخت کې جهاد فرض عین دی او وړاندې مو ټولې معتبرې حوالې هم وړاندې کړې نو کله چې جهاد فرض عین شو نو بیا داسي شو لکه لمونځ چې په یو انسان فرض شي چې بیا د هیچا اجازې ته ضرورت نه پاته کیږي بلکې د هر چا خپل مسؤلیت جوړیږي، البته کوم علماء کرام چې په جهاد کې اجازه شرط ګڼي د هغوی هدف هغه وخت دی کله چې جهاد فرض کفایي وي، تردې چې امام سرخسي رحمه الله په مبسوط او امام محمد رحمه الله په شرح د سیر الکبیر کې لیکي: چې ځیني داسي حالات راځي چې په فرض کفایي جهاد کي هم د امیر المؤمنین اجازې ته ضرورت نه پاته کیږي یو له دې حالاتو څخه هغه حالت هم دی چې کله مجاهدین په دې پوهیږي چې: که چیرته موږ جهاد پریږدو نو دښمن زموږ پر خلاف نور هم قوي کیږي نو په دې وخت کي هم د امیرالمؤمنین اجازې ته ضرورت نشته نو داچې په فرض کفایي جهاد کې هم په ځینو حالاتو کې د امیرالمؤمنین او یاهم پلار او مور اجازې ته ضرورت نشته نو اوس وخت کې خو جهاد فرض عین دی نو څنګه به د مور، پلار او کوم امیر اجازې ته ضرورت وي؟

داچي اوس وخت په نړۍ کې په کوم ځای اسلامي نظام راځي نو هڅکله باید داسي ونشي چي د اسلام بیرغ او اسلامي نظام په هماغه محدوده جغرافیه کې رابند شي ځکه هېڅکله دا د اسلام تقاضا او غوښتنه نه ده چي اسلامي امت دې سره بیل شي او د هماغه اسلامي نظام د ساتنې لپاره باید دومره مجاهدین پاته شي څومره چي کفایت کوي نور مجاهدین باید پریښودل شي ترڅو د الله تعالي د کلمې د لوړوالي او اسلامي خلافت راتګ لپاره خپله ایماني او اسلامي فرضیت ادا کړي

مګرهېڅکله داسي نه چې د نظام د ساتنې په پلمه ټول پاته شي ځکه کله به چې رسول الله ﷺ د جهاد لپاره وتلو نو ټول صحابه کرام به يې په مدينه منوره کې نه پريښودل بلکه تر دې چې څو ځله يې فقط يو صحابي مبارک د مديني منورې د حفاظت لپاره پريښودلی دی لکه د بيلګې په ډول چي څو ځله يې يو ړوند صحابي مبارک عبدالله ابن ام مکتوم رضي الله عنه يې مديني منورې ته د حفاظت لپاره تقريباً ١٣ کاله د نايب په صفت پريښی دی،رسول الله ﷺ هېڅکله داسي نه کول چې د مديني منورې د حفاظت او ساتنې لپاره زيات شمير او يا هم ټول صحابه کرام پاته کړي نو له دې څخه په ښکاره ډول دا څرګنديږي چي په کوم ځای کې اسلامي نظام راځي نو د هغه ځای او سيمې د ساتنې او قيام لپاره به دومره مسلمانان پاته کيږي څومره چې کفايت او بسوالی کوي ترڅو د جهاد ډيوه بله وساتل شي او د نړۍ په سطحه د عالمي جهاد لپاره زمينه برابره شي،او تاريخي تجربو او حقايقو هم دا ښودلي ده چي د جهاد په دوام سره اسلامي خلافت او نظام پاته کيدلای شي کله هم چي مسلمانانو جهاد پريښودلی دی نو ذليل شوي دي لکه د بيلګې په ډول هغه وخت د اسلامي نړۍ د وحدت سمبول عثماني خلافت را ونړيد کله چي هغوی اقدامي جهاد پريښود کوم چې فرض کفايي وومګر اوس وخت کې په ټوله اسلامي نړۍ کې جهاد په دفاعي حالت کې قرار لري کوم چي فرض عين دی نو د فرض عين جهاد په پريښودو سره به څنګه د يو اسلامي نظام استحکام او په نړۍ کې د عالمي جهاد په برکت سره اسلامي نظام او خلافت راشي.

دا چې په اسلام کې د اسلامي هيوادونو په منځ کې سرحد نشته نو لکه څنګه په افغانستان کې د اسلامي نظام د قايمولو په وجه د پاکستان، ايران، تاجکستان او نړدې نورو اسلامي هيوادونو په مسلمانانو په افغانستان کې د اسلامي نظام قايمول فرض عين و همدارنګه اوس د افغانستان، ايران، بنګله ديش او د نږدي نورو

اسلامي هېوادونو په مسلمانانو باندې په پاکستان کې او ورسره نورو هېوادونو کې د اسلامي نظام قايمول فرض عين دي او دا ځکه چي په اسلام کې د اسلامي هېوادونو په منځ کې سرحد نشته او مسلمانان يو سرحد لري چي هغه له کفر سره دی،نن ورځ که کفري جمهوريتونه او ياهم نور طاغوتي نظامونه هرڅومر قوم پرستۍ او د حدودو وضع کولو ته کار وکړي دغه کار يې د اسلام په مبارک دين کې هيڅ کوم اصل نلري او نه د بشر پواسطه د وضع شويو حدودو له امله زموږ شرعي مکلفيت خلاصيږي، نن ورځ ډېری خلک د جهاد له لارې په دې بهانو ځان خلاصوي چې زه عالم يم، مفتي يم، انجينر يم او يا هم زه داکتر يم او يا ديته ورته نورې بهانې او دا وايي چې زه له جهاد پرته ډېر نورلوی لوی خدمتونه کوولای شم دا بهانې هسې غولوونکې بهانې دي او دا ځکه چي د اسلام مبارک دين زموږ او تاسو د ټولو شريک دين دی او په دې باندې غيرت کول هم زموږ او تاسوټولو شريکه دنده او مسؤليت دی د ټولنې هر قشر او هر پوه او عالم بايد دغه مسؤليت ادا کړي ترڅو ټول اسلامي امت له دې سختو مشکلاتو راووځي او د هيڅا لپاره د پاته کيدو هېڅ کومه بهانه نه ده پاته شوې ځکه رسول الله ﷺ چي پخپل نفس او خپل ځان سره ۱۹ غزواتو کې پخپله ګډون کوي سره له دې چي هغه وخت کې داسلام ابتدا هم وه مګر بيا هم په عملي ډول سره امت ته دا وربښايې چي د جهاد پاته کيدو لپاه بهانې مه لټوئ اوس وخت کې خو جهاد فرض کفايي نه ده چي څوک دي بهانې ولټوي اوس وخت کې جهاد د لمانځه په شان فرض عين دی نو د هېچا بهانې ته اعتبار نشته

## په مسلمانانو باندې د خلافت قايمول فرض دي !

زموږ د جهاد او اسلامي نظام او خلافت قايمولو نظريه بايد تر کومې سيمې او جغرافيې پورې محدوده او منحصره پاته نشي ځکه موږ د کومې جغرافيې او کوم وطن بنديان نه يو بلکه موږ د توحيد کلمې په ويلو سره ټول مسلمانان سره ورونه شولو او زموږ خاوره د اسلامي خاورې په نوم ونومول شوه، او ددې لپاره چي ټول

امت متفق او متحد شي نو مسلمانان باید یو امیر او یو بیرغ لاندې راټول او متحد شي او خلافت باید رامنځته کړي الله ﷻ په سورة البقره کې فرمایي:

**واذ قال ربک للملائکة انی جاعل فی الأرض خلیفة...(۳۰ آیة)**

**ژباړه:** او یاد کړه هغه وخت چې ستا رب ملایکو ته وفرمایل چې زه په ځمکه کې خلیفه گرځوم. د پورته آیت مبارک لاندې د امت لوی مفسر ابن کثیر رحمه الله لیکي: چې له خلیفه څخه مراد یوازې آدم علیه السلام مراد نه ده بلکې د هروخت او زمانې د مسلمانانو هغه مشر او خلیفه ورڅخه مراد ده چې د الله تعالی د قوانینو او احکاماتو په پلي کولو کې د الله ﷻ څخه خلیفه او جانشین جوړ شي، له پورته آیت مبارک څخه په ښکاره دا ثابیتږي او څرګندیږي چیې د انسان خلقت او پیدایښت ددې لپاره شوی دی چې د الله تعالی پرځمکه د الله تعالی قوانین او نظام حاکم کړي او دا ځکه فردي عبادات خو هرڅوک کوي د مسلمانانو د وحدت لپاره خلافت قایمول په مسلمانانو فرض دي او په همدې پورته آیت مبارک باندې د امت لوی مفسر امام قرطبي رحمه الله هم ددې استدلال کوي چې په مسلمانانو د خلیفه قایمول لازم او واجب دي ترڅو د دوی ترمنځ په شریعت پریکړه وکړي،حدود جاري کړي او د فحشاء مرکزونه بند کړي او له دې وروسته د فقهاء کرامو دا قول راوړي: و ما لایتم الواجب الا به فهو واجب: یعنې دغه پورته امور خو په مسلمانانو واجب او فرض دي او کوم شیا چې ترهغه پورې نور فرایض او واجبات تړلي وي نو هماغه څه هم واجب او فرض گرځي، یعنې لکه چې د الله تعالی قانون حاکمول په مسلمانانو فرض عین دي همدارنګه دغه قوانین تر هغه وخته پورې عملي کیدای نشي ترڅو چې مسلمانان یو خلیفه او یو امیر ونلري نو له همدې امله په مسلمانانو د خلیفه او امیر مقررول او نصبول فرض دي تردې پورې امام قرطبي رحمه الله فرمایي: «**ولا خلاف فی وجوب**

**ذالك بين الأمة ولا بين الأئمة»** يعنې د خلافت د قايمولو په واجبوالي کې د ټول امت او ټولو امامانو ترمنځ هېڅ اختلاف موجود نه دی بلکې دوئ ټول وايي چي په مسلمانانو د خلافت قايمول فرض دي، امام مسلم رحمه الله يو حديث مبارک رانقلوي: **«من مات وليس فى عنقه بيعة مات ميتة الجاهلية»** يعنې څوک چي مړ شو او دده په غاړه کې د کوم اسلامي خليفه او يا امير بيعت نه وي نو دغه کس د جاهليت په مرگ مړ شو، همدارنگه امام قرطبي رحمه الله د خلافت قايمولو د فرضيت په دليل کې د صحابه کرامو اجماع رانقلوي هغه په دې ډول کله چي رسول الله ﷺ وفات شو نو په صحابه کرامو باندې د رسول الله ﷺ تدفين او تجهيز فرض و مگر دوی دغه فرض تر هغو پورې وځنډولو ترڅو د امت لپاره خليفه تعين شوی نه وي په دې سره صحابه کرامو رضي الله عنهم په عملي ډول دې امت ته دا وروښوده چي په مسلمانانو د خلافت قايمول فرض دي او دې اجماع ته د امت يوه عظيمه اجماع هم ويلی شو څکه په دې پورې د ټول امت مصالح او ښيگڼې نغښتې دي، له همدې امله خلافت ته علماء کرام امامة الکبری نوم ورکوي يعنې امامت چي د لمونځونو امامت دی هغه کوچنی امامت دی مگر لوی امامت هغه د خلافت امامت دی يعنې په نړۍ کې د مسلمانانو د وحدت او خلافت امامت يو عظيم او لوی امامت دی لکه چي په مسلمانانو امامة صغری يعنې د کوچني امامت قايمول لازم او فرض دي همدارنگه د امامة کبری يعنې لوی امامت او خلافت قايمول خو ورباندې په طريقه اولی سره فرض دي او د مسلمانانو بايد يو خليفه او يو امير وي داسي نه لکه نن ورځ چي د وطن پرستۍ او هېواد پرستۍ له وجې د هر يو هېواد خليفه او امير بيل دی بلکې د ټولو مسلمانانو بايد يو خليفه وي نور بيا د هر هېواد که چيرته بيل حاکم وي مشکل نلري البته دوئ ټول بايد د يو امير اطاعت وکړي او ټول بايد د يوخليفه او داسلام تر بيرغ لاندې راټول شي څکه رسول الله ﷺ فرمايي:

**عن ابی سعید الخدري رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا بویع الخلیفتین فاقتلوا الآخر منهما (رواه مسلم)**

**ژباړه:** ابوسعید الخدري رضي الله عنه فرمایي: چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: کله چې دوه خلیفگانو سره بیعت وشي نو تاسې هغه وروستی یو قتل کړئ، یعنې د لومړي خلیفه سره خپل بیعت وساتئ او دغه دوهم یو ووژنئ ځکه دی د مسلمانانو په منځ کې تفرق او اختلاف را پیدا کوي نو له دې حدیث مبارک څخه هم په ښکاره ثرګندیږي چې ټول مسلمانانو باید خلافت ولري او د دوی خلیفه او امیر باید یو کس وي ترڅو ټول امت پرې متفق او متحد وي داچي د خلافت له لارې د اسلامي نظام قایمول پر ټولو مسلمانانو فرض عین دی نود اسلامي خلافت د قیام په دې لاره کې چي هرڅوک خنډ واقع کیږي هغه باید ختم شي هغه که طاغوتي نظامونه دي او که کفري جمهوریتونه دي نن ورځ له افغانستان پرته د نړۍ په هېڅ کوم هېواد کې اسلامي نظام شتون نلري یاخو پکې کفري جمهویتونه دي او یاهم نور طاغوتي نظامونه دي چي هلته هم د اسلام په قوانینو پریکړه نشته بلکې د بشر په لاس جوړ شویو وضعي قوانینو باندې پریکړې کیږي او د اسلام کلمه یوازې د خلکو خطا ایستلو لپاره ورسره ذکر کوي او کله هم چې د نړۍ په سطحه مسلمانانو خلافت درلودلو نو مسلمانان د نړۍ په سطحه په هر ډگر کې پرمختللي و او هېڅ داسې کومه خاوره نه وه چې کفارو دي اشغال کړې وه او نه هم د مسلمانانو ښځې له کفارو سره اسیرې وې بلکې د جهاد قافلې به ددې لپاره رواني وي ترڅو اروپا او نورو غربي هېوادونو ته د اسلام بیرغ سپیڅلی دین ورسیږي مگر افسوس نن ورځ چي مسلمانان د نړۍ په سطحه خلافت او واک نلري نو یو یو ا سلامي هېواد د کفارو له طرفه اشغال کیږي او په دې خاوره کې په لکونو بې گناه مسلمانان په شهادت رسوي او د لکونو مسلمانانو خویندو عزتونه لوټ کوي مگر د نورې نړۍ

مسلمانان ورته په خړو سترګو ګوري او نندارہ یې کوي او بیا دا خبره هم کوي چې هغه خو زموږ هېواد او زموږ وطن نه دی دغه د وطن او هېواد او حدودو او باډرونو اصطلاحات خو موږ ته غرب را جوړ کړل ترڅو مسلمانان پرې تقسیم او ټوټې ټوټې کړي لکه نن ورځ چې دوی دې هدف ته رسیدلي دي، زموږ وطن او هېواد ټوله اسلامي خاوره ده او ځیني د علم له نظره کمزوري علماء خو لا حدیث هم ذکر کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي: حب الوطن من الأيمان: یعنې له وطن او هېواد سره مینه لرل د ایمان یوه برخه ده مګر اصل کې دغه حدیث موضوعي یعنې په دروغو جوړ شوی حدیث دی چې هېڅ کوم اصل او سند نلري، د امت لویو محدثینو په دې دروغ جوړ شوي حدیث باندې ردونه کړي دي لوی محدث علامه سیوطي رحمه الله په الدرر المنتشرة کې وايي چې دا حدیث هېڅ کوم سند نلري همدارنګه علامه ابن حجر عسقلاني رحمه الله، علامه زرقاني رحمه الله او علامه ابن جوزي رحمه الله هم په دې حدیث باندې ردونه کړي دي او دغه یې یو موضوعي او له ځان څخه جوړ شوی حدیث ګڼلی دی مګر علماء کرام فرمايي چې دا سمه ده چې دغه حدیث نه دی مګرمعنا یې په دې ډول سمه ده چې له وطن څخه اسلامي وطن واخیستل شي یعنې له ټولې اسلامي خاورې او وطن سره باید هر مسلمان باید مینه ولري او دهغه دفاع پرځان فرض وبولي یعنې د وطن تعریف باید داسي ونشي لکه څنګه یې چې نن غربي سیاست پوهان کوي بلکه اسلامي وطن هغه وطن دی چې یووخت کې اسلام ورغلی وي هغه که هر چیرته او هر یو هېواد وي مګر افسوس نن ورځ چې څوک د جهاد او خلافت خبره کوي نو بیا ویل کیږي چې دغه خلک د بل هېواد په داخلي کارونو کې لاسوهنه کوي اصل کې اسلام کې هېڅ دغه اغزن تارونه او حدود نشته کوم چې دوی وضع کړي دي تاسو وګورئ نن ورځ کفارو د اسلام تاریخ را ژوندی کړی او مسلمانانو بیا خپل تاریخ هیر کړی دی

دوۍ خلافتونه جوړ کړي دي د اروپا اتحادیه چي لسګونه هېوادونه پکې د یو خلافت لاندې راټول شوي دي همدارنګه د امریکا متحده آیالات چې پکې پنځوس آیالات او هېوادونه وجود لري مګر دوۍ ټول تر یو امیر او یو بیرغ لاندې راټول شوي دي تردې چې د امریکا ټولو هېوادونو ترمنځ هېڅ کوم فزیکي سرحد او پوله وجود نلري؛ یو امریکایې تبعه کولای شي چي ټولو هېوادونو ته پرته له کومې ویزې او پاسپورت درلودلو داسي سفر وکړي لکه د یو هېواد وګړی چې هرځای او هر ولایت ته پرته له کوم ممانعت څخه سفر کولای شي او دوئ دې سفرته «ډیموستیک ټریول» یعنی کورنی سفر وایي همدارنګه دوۍ خپل منځ کې ویزه او پاسپورت لغوه کړي دي بلکې یو امریکایي تبعه چیې یوازې همدغه پیژندکارت ولري نو کولای شي ټولو هېوادونو ته په ډېر سهولت سره پرته له ویزې او پاسپورت څخه سفر وکړي.

مګر بل طرف ته د اسلامي هېوادونو ترمنځ یې بیا قوم پرستۍ او جغرافیه یې پولو ته دومره زور ورکړی دی چي د همدې مصنوعي کرښو په وجه مسلمانان سره ټوټې ټوټې او متفرق شوي دي او په سرحدونو یې کلک او محکم اغزن سیمونه او فزیکي موانع رامنځته کړي؛ نن ورځ مسلمانان د جغرافیه یي کرښو په زندانونو کې راحصار شوي مګر بل طرف ته د اسلام پر خلاف ټول کفار د مختلفو دینونو او عقایدو وال د یو امیر او یو بیرغ لاندې متفق او متحد شوي دي؛ افسوس نن ورځ مسلمانانو خپل منځ کې د عقیدې سرحد او پوله له منځه وړې ده او د محدودې جغرافیې په خطرناکه لومه کې راګیر شوي دي اوس د امت ځوانان او علماء د امت پرځای د یو ملت چیغي وهي کومه چې Nationalisms او قوم پرستۍ یو خطرناک جال دی چي امت پکې راګیر شوی دی مګر افسوس
نن ورځ اسلامي هېوادونو کې له مسلمانانو څخه ویزه او پاسپورت غوښتل کیږي

کوم چې عیني د هغه ټیکس او جزیې معادل دي چې له یو ذمي او معاهد کافر څخه غوښتل کیږي نن ورځ علماء چیرته دي چې د حق دغه صدا او چیغه راپورته کړي چي الاسلام دار واحد: د اسلام کور ټول یو کور دی او د قرآنکریم دغه شعار راپورته کړي چې :*انما المؤمنون اخوة*: بیشکه ټول مسلمانان سره ورونه دي!

*وَإِنَّ هَٰذِهِۦٓ أُمَّتُكُمۡ أُمَّةً وَٰحِدَةً*

او دا ستاسي اُمت، یو اُمت دی!

*وَاعۡتَصِمُوا بِحَبۡلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا* اې مؤمنانو ټول د الله تعالی په رسۍ یعنې قرآنکریم سره راټول شئ او خپل منځ کې(د قومونو،ملتونو پر اساس) اختلافات او تفرقې مه کوئ!

افسوس نن ورځ د امت عوام او خواص د وطن پرستۍ او هېواد پرستۍ په جال کې راګیر شوي دي او د امت هغه جراري ژبې ګونګې شوې دي چې یو وخت به یې دغه امت راپورته کولو. زموږ او تاسو نظر او عقیده باید د نړیوال جهاد وي هغه وخت به بیا امت د آرام ساه اخلي کله چې همدغه نظریه او عقیدې ته موږ او تاسو کار وکړو او تر هغو د آرم ساه وانخلو ترڅو اسلامي امت د تیر په شان یوځل بیا د یو امیر او یو اسلامي بیرغ لاندې راغلی نه وي،زموږ او تاسو جهاد او د اسلامي نظام حاکمیت باید تر یو څو هېوادونو پورې مشخص نه وي بلکه د یو عالمې جهاد په فکر باید هر ځوان او هر یو عالم کار وکړي او دا فکر باید عام کړي.

## اسلامي هېوادونو کې طاغوتي نظامونه !

نن ورځ مسلمانان یوازې دا فکر کوي چې دین او عبادت یوازې دادی چې لمونځ وکړه،روژې ونیسه او حج ته لاړ شه او یاهم داسې نور فردي عبادات او نوافل مګر دا یوه لویه اشتباه او غلطې ده ځکه دین یوازې په فردي عباداتو کې را انحصارول

یو ستر ظلم دی ځکه خو الله تعالی فرمایې: چې ای مؤمنانو په دین کې پوره داخل شئ او د الله تعالی پرځمکه د الله تعالی نظام او قوانین حاکمول له ټولو عباداتو څخه یو لوی عبادت دی او دانسان خلقت هم د همدې دواړو عباداتو لپاره شوی دی نن ورځ تش په نوم اسلامي هېوادنو کې یاخو کفري جمهوریتونه شته دي او یاخو هلته نور طاغوتي نظامونه شته دي یعنې د الله تعالی په قوانینو پریکړه نشته بلکې په اکثریت او په نورو هغو قوانینو پریکړې کیږي چې د انسان په لاس جوړ شوي او وضع شوي دي او څوک چې د الله تعالی په قوانینو پریکړه نه کوي قرانکریم داسي خلک تش په نامه مسلمانان ګڼلې دي او داسي خلکو ته یې طاغوت یعنې کفر ویلی دی، او څوک د الله جَلَّ جَلَالُهُ د قوانینو څخه پرته په نورو قوانینو پریکړې کوي او د داسي یو نظام حمایت او دفاع کوي داسي ټول خلک د طاغوت په صف کې راځي او د الله تعالی د قوانینو پرته نور قوانین عملي کول او منل پخپل د طاغوت او کفر عبادت او بنده ګي کول دي ځکه امام بغوي رَحِمَهُ اللَّهُ د لاندې آیت مبارک لاندې د عدي ابن حاتم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کیسه رانقل کوي:

**اتخذوا أحبارهم ورهبانهم أربابا من دون الله «سورة التوبه: ۳۱ آية»**

**ژباړه:** او دوئ خپل علماء او پیران په خدایې سره نیولي و، حضرت عدی ابن حاتم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمایې: چې زه د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضور ته راغلم ګورم چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همدغه آیت مبارک تلاوت کوي نو ما ورڅخه پوښتنه وکړه چې اې د الله تعالی رسوله موږ خو د خپلو علماوو او پیرانو عبادت نه دی کړی نو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راته وفرمایل: آیا ستاسو علماوو او پیرانو به چې څه درته له خپل ځان څخه حلال کړل ایا تاسو به هغه حلال نه ګڼل؟ او څه به یې چې درته له خپلو خواهشاتو څخه حرام کړل آیا تاسو به هغه په ځان نه حرامول؟ نو عدي ابن حاتم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته فرمایې: چې ولې نه همداسي خو و نو دې وخت کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته فرمایې

**فتلك عبادتهم**: یعنې همدغه په قوانینو کې د یو چا پیروي کول اصل کې د هغوی عبادت کول دي، همدارنګه څوک چې د الله تعالی د قوانینو پرته په نورو قوانیو پرکړه کوي هغوئ ته الله تعالی طاغوت ویلی دی: امام ابن کثیر،امام قرطبي او نورو ډېرو زیاتو مفسرینو ددې په اړه د یو منافق(چې په ښکاره مسلمان و) او یو یهودي ترمنځ رامنځته شوې مشهوره واقعه ذکر کوي د کومې واقعې په اړه چې بیا وروسته آیاتونه هم را نازل شول هغه په دې ډول چې د یو منافق او یو یهودي خپل منځ کې په یو شي باندې جنجال راغی یهودي دا دعوه کوله چې دغه شیا زما حق دی او منافق دا دعوه کوله چې دغه شیا زما حق کیږي،یهودي کوښښ کولو چې دغه دعوه رسول الله ﷺ ته یوسي ځکه دی پوهیده چې هغه حقه پریکړه کوي مګر منافق کوښښ کولو چې دغه دعوه د یهودو مشر کعب ابن اشرف ته یوسي ځکه هغه پوهیده چې کعب ابن اشرف رشوة هم اخلي مګر یهودي ورباندې غالب شو او دغه دعوه یې رسول الله ﷺ ته راوړه او عليه السلام هم د یهودي په حق کې پریکړه وکړه مګر دغه پریکړه منافق ته د منلو وړ نه وه نو د همدې لپاره منافق انکار وکړ او دایې وویل چې زموږ او تاسو پریکړه به حضرت عمر رضي الله عنه کوي ځکه دی پوهیده چې حضرت عمر رضي الله عنه په کفارو سخت دی مګر په دې نه پوهیده چې هغه څومره عادل دی او کله چې په یوه خبره کې یې دښمن په حقه وي بیا دهغه چا پروا هم نلري چې هغه په نامه مسلمان وي کله چې دواړه حضرت عمر رضي الله عنه ته راغلل نو عمر رضي الله عنه له منافق څخه دتایید په خاطر پوښتنه وکړه چې آیا رښتیا تاسو ته رسول الله ﷺ مبارک هم پریکړه درکړې ده نو هغه وویل هو نو حضرت عمر رضي الله عنه ورته وفرمایل: چې لږ انتظار شئ زه بیرته راځم کله چې کور ته داخل شو نو له ځان سره یې پټه توره راوړه او ددې منافق سر یې ورباندې غوځ کړ او دایې وویل څوک چې د الله تعالی او دالله تعالی د رسول حکم او پریکړه نه مني د هغوی په اړه زما پریکړه پداسي ډول ده

وروسته  الله ﷻ فرمایلي آیاتونه را نازل کړل او هغه کس چي د الله تعالی په قانون یې پریکړه نه کوله هغه یې تش په نوم مسلمان او هغه چاته چې دوی پریکړه ور وړله الله تعالی ورته طاغوت او کفر وویلو هغه آیت مبارک دادی:

**ألم تر الی الذین یزعمون أنهم آمنو بما أنزل الیك وما أنزل من قبلك یریدونه أن یتحاکموا الی الطاغوت وقد امرو این یکفرو به ویرید الشیطان أن یضلهم ضلاا بعیدا(سورة النساء: ۶۰ آیة)** ایا ته نه ګورې هغو خلکو ته چي دوی ګمان کوي چي دوی ایمان راوړی ده په هغه وحې  سره چي تاته او یا هم له تا څخه وړاندې چي نازله شوې ده دوی اراده لري چي طاغوت(یعنې کفر) ته پریکړه یوسي او بیشکه دوی ته ددې امر شوی دی چي په دې طاغوت باندې کفر وکړي او شیطان دا اراده لري چې دوی ګمراه او بې لاري کړي په ډېرو سختو او بعیدو ګمراه کولو سره. پورته آیت مبارک کې په ښکاره سره دا څرګنده شوه چي د الله تعالی له قوانینو پرته په نورو قوا نینو سره هغه که د جمهوریت په نوم سره وي او یا په کوم بل نوم سره هغوئ د طاغوت په صف کې راځي او په مسلمانانو باندي ددې کفري نظامونو رانسکورل فرض دي ترڅو اسلامي خلافت او اسلامي نظام ته زمینه برابره شي او د الله تعالی پرځمکه د الله تعالی نظام  حاکم شي.

## د جهاد لپاره د عصري علومو فرضیت

الله ﷻ په قرانکریم کې فرمایې: **وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ** «سُوْرَةُ الأنفَال:۶۰» او تاسي تر خپلې وسې وسې ډېر زیات د دښمن په وړاندې  قوة او طاقت برابر او تیار کړئ. امام قرطبي رَحِمَهُ الله فرمایي: چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پورته آیت مبارک په تفسیر کې لیکي چې له قوة څخه مراد سلاح ده،د امت زیاتره مشهور مفسرین او فقهاء کرام له پورته آیت مبارک څخه د عصري علومو په فرضیت باندې استدلال

کوي ځکه پرته له عصري علومو څخه د جهاد اسباب نشي جوړیدای همدرانګه په آیت مبارک کې له قوة څخه مراد دهرې زمانې خپل قوة او تکنالوژي مراد ځکه اوس وخت کې د جهاد اسباب بدل شوي دي او د جهاد اوسني اسباب او سلاح له مرمۍ، ټوپک، راکټ،ثقیل، طیاري،توپونه، زغروال ټانګونه، هوایي دفاعي سیستم او داسي نور اسباب او اسلحې دي او د جهاد اسباب همدغه اسباب د عصري علومو له زده کړې څخه پرته ناممکن دي، امام مسلم رحمه الله پخپل صحیح کې د عقبه ابن عامر رضي الله عنه څخه روایت کوي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل چي په منبر باندې ناست و او پورته آیت مبارک یې تلاوت کړو او وروسته یې دا وفرمایل: **الا ان القوة الرمی، الا ان القوة الرمی، الا ان القوة الرمی:** رسول الله صلی الله علیه وسلم درې ځله وفرمایل: خبردار له قوة څخه مراد ویشتل دي، یعنې له قوة څخه مراد د ویشتلو اسباب دي لکه نن ورځ کې د ویشتلو چې کوم اسباب او توپونه دي او جهاد ددې اسبابو جوړول پرته له عصري علومو څخه ناممکن او ناشونی کار دی.

**وفی سنن أبي داود والترمذي والنسائی عن عقبه ابن عامر رضي الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم ان الله یدخل ثلاثة نفر الجنة بسهم واحد: صانعه یحتسب فی صنعته الخیر و الرامی به ومنبله. امام ابوداود، امام ترمذي او امام نسایي (رحمه الله عنهم اجمعین)**

د حدیثو پخپلو صحیحو کتابونو کې له عقبه ابن عامر رضي الله عنه اجمعین روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: الله تعالی د یو غشي په وجه درې کسان جنت ته داخلوي: جوړونکی یې چې د خیر په نیت یې جوړ کړي او ددې غشي ویشتونکی او مجاهد ته ددې غشي ورکوونکی، اوس وخت کې غشی نشته بلکه د جهاد اسباب اوس مرمۍ او نور اسباب دي اوس وخت کې ددې حدیث مبارک معنا په دې ډول سره ده یعنې الله جل جلاله به د یوې مرمۍ په وجه درې کسان جنت ته داخلوي : لومړی هغه څوک چې مرمۍ جوړوي خو له جوړولو څخه هدف د خیر هدف وي بل هغه

څوک چې مجاهد ته مرمۍ ورکوي او بل هغه څوک چې پخپله مجاهد وي کوم چې د الله تعالی په لاره کې مرمۍ پخپله وار کوي یعنې هغه محصل او هغه د عصري علومو انجینر چې خپل ځان ددې حدیث مبارک مصداق وګرځوي نو داسې محصل او انجینر او تکنالوجیست ته رسول الله ﷺ د جنت زیری ورکړی دی نو اوس وخت کې باید مسلمانان او مجاهدین عصري علومو ته په جدي ډول توجه وکړي او د جهاد لپاره داسي نوي نوي ایجادات او اختراعات وکړي چې په وړاندي یې د دښمن پرمختللې تکنالوژي له صفر سره ضرب شي او دښمن پرې عاجزه شي او د امت علماء باید د مسلمانو انجینرانو په فکرونو شپه او ورځ کار وکړي ترڅو له مجاهدینو سره وره په وره ودریږي او دا فکر ورکړل شي چې د اسلام دفاع او د اسلامي نظام او اسلامي خلافت بیا را ژوندی کول زموږ او تاسو ټولو ایماني،اسلامي او انساني فریضه ده.

## آیا د غزوة الهند جهاد بغاوت دی؟

د پاکستان د جمهوري نظام راپرځول او پرځای یې سوچه اسلامي نظام قایمول بغاوت نه بلکې فرض عین جهاد دی او دا ځکه بغاوت خپل تعریف لري لکه څرنګه چې د فقهي معتبر کتاب د هدایه شرحې «البنایه» راخیستی دی:

**فأهل البغي هم الخارجون على امام الحق بغير حق (البنايه: كتاب البغات)**

**ژباړه:** باغیان هغه څوک دي چې هغوی په حق امام او امام عادل باندې خروج وکړي په ناحقه سره، او د جمهوري نظام په حاکمانو باندې د امام عادل اطلاق کول یو لوی او عظیم ظلم دی ځکه امام خو هغه امام ته ویل کیږي چې هغه امام د خپل هیواد اساسي قانون قران وګرځوي نه داسي چې تش په نوم هیواد د اسلامي هیواد په نوم وي.

همدارنگه  مفتي اعظم هند مفتي کفایت الله دهلوي رحمه الله د داسي حاکمانو په اړه لیکي: کوم حاکمان چې د خدای جل جلاله او د خدای جل جلاله د رسول خلاف قانون جاري کړي هغوئ یې د لاندې آیت کریمه څخه راوستلي دي: **ومن لم یحکم بما انزل الله فأولئك هم الکافرون.**

**ژباړه:** او څوک چې  د الله تعالی په رالیږل شوي قانون حکم ونه کړي هغوی کافران دي، داسي حاکمان د همدې آیت لاندي داخل دي(**کفایت المفتی ج**:۱ **ص**:۱۳۹)

همدارنگه د خپل عصر یو لوی عالم مولانا سید محمد یوسف بنوري رحمه الله په خپله فتاوی کې لیکي: حقیقت داده چې قرانکریم او رسول الله صلی الله علیه وسلم د کوم اولی الأمر(حاکمانو) اطاعت او تعظیم حکم کړی دی له هغې څخه مراد هغه حاکمان دي چې حدود قایموي،امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي...که کوم امیر یا د وخت حاکم د شریعت خلاف حکم وکړي نو پخپله د هغه شرعي حیثیت ختمیږي نو دهغه اطاعت څه چې مخالفت به یې کیږي(**فتاوای بینات ج**:۲ **ص**:۲۹۱)

د پاکستان جمهوري نظام خو د قراني احکامات نه وای جاري کړي بلکې شته د قراني قوانینو په خلاف یې قوانین په پارلمان کې تصویب کړل لکه: په رضا سره زنا کول کوم جرم نه ده،هم جنس پرستي به کوم جرم نه شمیرل کیږي،د هېواد د بانکو سیستم د سودي نظام په ډول جوړول او...

## د غزوة الهند د جهاد د فرضیت یو ډېر مهم لامل

دا چې په ټولو مسلمانانو باندې د اسلامي نظام قایمول فرض عین دي ځکه الله جل جلاله فرمایي: **فاحکم بینهم بما انزل الله ولا تتبع أهواءهم عما جاءك من الحق..الی آخره الایه**

**ژباړه:** او پریکړه او حکم وکړه د دوئ په منځ کې په هغه قران عظیم شان سره چې هغه الله ﷻ تاته نازل کړی دی او د دوی د خواهشاتو تابعداري مه کوه وروسته له هغې چې تاته حق راغی.

ددې تفسیر لاندې لوی مفسر امام ابن کثیر رحمه الله په خپل تفسیر ابن کثیر کې لیکي: چې الله تعالی په دې امر کوي چې د مسلمانانو پریکړه به په قران سره وي هغه که عربي وي او که عجمي.

په پورته آیت شریف کې الله تعالی د قراني حکم د تطبیق امر کوي او امر د الله ﷻ د فرضیت لپاره وي نو له پورته آیت څخه دا استدلال په ډېر واضح ډول کولای شو چې د اسلامي نظام قایمول په ټول امت باندې فرض عین دی هغه که په هر هېواد کې وي.

همدارنگه الله ﷻ هغه امت ته چې په قرانکریم پریکړه نه کوي هغوئ ته په وار وار سره د کفارو،فاسقانو او ظالمانو خطاب کړی نو له دې ټولو آیاتونو څخه د لمر په څیر څرگندیږي چې د اسلامي نظام قیام په ټول امت باندې فرض عین دی.

همدارنگه د صحابه کرامو عمل هم په دې دلالت کوي چې په ټول امت باندې د خلافت او په نړۍ کې د اسلامي نظام قایمول فرض عین دي ځکه ترڅو چې د ټولو مسلمانانو واحد خلافت نه وي ترهغه وخته پورې اسلامي هېوادونه د کفارو له اشغال او له کفري حکومتونو څخه نشي خلاصیدلی ځکه خو کله چې رسول الله ﷺ وفات شو نو د ټولو صحابه کرامو په اتفاق باندې د حضور ﷺ تجهیز او تدفین ترهغه وخت پورې وځنډول شو تر څو د مسلمانانو په منځ کې د خلافت او په واحد امیرالمؤمنین باندې پریکړه وشوه او د مسلمانانو په منځ کې راپورته شوی اختلاف ختم شو داچې په مسلمانانو باندې د رسول الله ﷺ د جسد مطهره تدفین فرض و مگر کله چې ټولو صحابه کرامو په یو اتفاق سره هغه ځنډوي نو دا په دې دلالت

کوي چې د مسلمانانو د خلافت او امامت مسئله یوه دومره مهمه مسئله ده چې له نورو فرایضو څخه هم پورته ده ځکه په نړۍ کې د اسلامي نظام په قیام سره د ټول امت مصلحتونه او ښیګڼې راتللی شي ځکه خو همدې امامت ته امامت کبرى ویل کیږي. نو دا چې د پاکستان مقدسه خاوره د اسلامي خاورې یوه برخه ده نو بناءً اسلامي نظام راوستل پکې په ټول امت فرض عین دی او په ځانګړي ډول سره په هغو مسلمانانو باندې چې هغه ورته نږدې دي او دا چې ټول مسلمانان سره وروڼه دي لکه څنګه چې الله تعالى فرمایي: بیشکه مسلمانان ټول سره وروڼه دي.

او د مسلمانانو خاوره ټوله یوه خاوره او یوه واحده سیمه ده ځکه خو فقهاء کرام فرمایي: **اما دار الاسلام فالدار واحد**: یعنې د مسلمانانو کور ټول یو کور دی یعنې د اسلامي هېوادونو په منځ کې سرحدي کرښې او سرحدونه نشته داد کفارو او د غرب اصطلاحات دي چې د مسلمانانو د بې اتفاقه کولو لپاره یې په مسلمانانو تپلي دي نو د پاکستان جهاد یوازې د پاکستان په اوسیدونکو نه بلکې د پاکستان د ټولو سرحدونو شاوخوا میشتو مسلمانانو باندې په پاکستان کې د اسلامي نظام قایمول فرض عین دي او کله چې جهاد فرض عین شي بیا نو امیر اجازه هم شرط نه ده او په انسان باندې په داسي ډول فرض عین ګرځي لکه لمونځ او روژه چې بیا د پلار، موراو امیر اجازې ته ضرورت نه پاته کیږي.

## په پاکستان کې د اسلامي نظام قیام د القدس د فتح کیدو لاره خلاصوي

دا چې نن ورځ فلسطین یهودیانو اشغال کړی دی او همدارنګه نور په لسګونه اسلامي هېوادونه د کفارو تر اشغال لاندې دي،که چیرته په لومړي ځل سره د پاکستان جهاد بریا ته ورسیږي او ورپسې د ایران جمهوري نظام را ونړول شي او

پرځای یې سوچه اسلامي نظام قایم شي نو له همدې لارې به د قدس ازادۍ ته زمینه برابره شي،د پاکستان اوسنی جمهوري حکومت په آسیا کې د کفارو او امریکایانو یوه مخفي او پټه استخباراتي ټاپو ده کوم چې همیشه د کفارو او امریکا په اشارو چلیږي نو که چیرته د کفارو دغه استخباراتي ټاپو له منځه یووړل شي نو په ډیرې آسانۍ سره به په اسلامي نړۍ کې د جهاد مقدس تحریکونه سره وصل شي او په پاکستان کې اسلامي نظام به د اتومي اسلحې په لرلو سره خورا غښتلی شي او دا هرڅه به دیته زمینه برابره کړي چې د الله ﷻ د لارې مجاهدین او د جهاد قافلې به مخ په وړاندي رواني وي چې بیا به یې هېڅوک د قابو کولو توان ونلري او په ټوله اسلامي نړۍ به د اسلامي نظام د راتګ او د ازادۍ لمر یو ځل بیا په راختو شي او یوازې بیت المقدس څه چې ټول اسلامي هېوادونه به د کفارو له اشغال څخه خلاص شي او په ټوله اسلامي نړۍ به د عثماني خلافت په شان یو ځل بیا د اهل السنة والجماعة تر چتر لاندې یو اسلامي خلافت رامنځته او مظلوم امت به د تېر په شان یو ځل بیا د آرام ساه واخلي ان شاءالله.

## د پاکستان جهاد په احادیثو کې

**پوښتنه:** په احادیثو کې چي د غزوة الهند په اړه کوم روایتونه راغلي په هغو کې خو د پاکستان نوم نه دی یاد شوی بیا څنګه د پاکستان د جهاد اثبات ورڅخه کوولای شو؟

**ځواب:** د رسول الله ﷺ په زمانه کې چې د هند په نوم څومره سیمې نومول کیدې هماغه سیمې له حدیث مبارک څخه مراد دي او هغو وروستو نومونو ته هېڅ کوم اعتبار نشته ځکه هغه وخت معتبر ده په کوم وخت کې چي رسول الله ﷺ یې په اړه حدیث مبارک ویلی دی او په هغه وخت کې پاکستان او بنګله دیش دواړه

هېوادونه د هند په نوم یادیدل نو کوم احادیث چې د هند د جهاد په اړه راغلي هماغه احادیث په دې دواړو هېوادونو تطبیق کیدای شي.

**عن ثوبان مولی رسول الله ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ عصابتان من امتی احرزهما الله من النار عصابة تغزو الهند و عصابة تکون مع عیسی ابن مریم علیهما السلام (رواه النسائی رقم/۳۱۷۵) والامام أحمد فی المسند (۳۷/۸۱)**

**ژباړه:** له ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما د امت دوه ډلې دي چې الله جل جلاله به يې د جهنم له اور څخه وساتي یوه هغه ډله ده چې د هند غزا به کوي او بله هغه ډله ده چې د عیسی ابن مریم علیهما السلام ملګرتیا به کوي.

دوهم حدیث: **عن ابی هریرة رضي الله عنه قال: وعدنا رسول الله ﷺ غزوة الهند فأن ادرکت انفقت فیها نفسی ومالی، فأن استشهدت کنت من خیر الشهداء وأن رجعت فأنا ابوهریرة المحرر (ورد هذا الحدیث بطروق ثلاثة عن ابی هریرة: رواه الأحمد فی المسند ۱۲/۲۸)**

**ژباړه:** ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې موږ سره رسول الله ﷺ د هند د غزا وعده وکړه او دا یې راته وویل چې که چیرته ما دغه غزا پیدا کړه نو زه به پکې خپل ځان او نفس د الله جل جلاله په لار کې قرباني کوم او که چیرته پکې شهید شوم نو زه به په ټولو شهیدانو کې بهتره او غوره شهید وم او که چیرته بیرته راوګرځیدم نو زه ابوهریره به د جهنم له اور څخه آزاد وم.

نو هر څوک چې د پاکستان په جهاد کې برخه اخلي هماغه څوک د پورته حدیث مبارک مصداق ګرځي او د پورته حدیث له مخې که چیرته څوک په دې جهاد کې په مجاهدینو باندې خرڅه وکړي نو هغه خرڅه او نفقه په ټولو صدقو او خرڅو کې غوره او بهتره ده او که څوک پکې شهید شي نو دغه شهید به په ټولو شهیدانو کې غوره وي .

## د پاکستان فوج خو کلمه هم وايې بيا د دوی وژل څنګه دي

فقط په خوله باندې کلمه ويل هېڅکله دا معنا نه ورکوي چې ددې کس وژل به هم هيڅ وخت روا نه وي: ددې لپاره ډېر مثالونه شته چې تاسو ټولو ته حکم معلوم دی لکه يو کس ده مسلمان ده په خوله کلمه هم وايې مگر دغه کس زنا کوي پداسي حال کې چې واده يې کړی دی نو د څلورو شاهدانو په شاهدي بيا د همدغه کس وژل د اسلامي حکومت فرضيت جوړيږي او په دې د ټول امت اتفاق دی ځکه په اړه يې ښکاره آياتونه راغلي دي نو که چيرته دغه کس په خوله هرڅومره کلمه وايي زيات عبادات،نفلونه،صدقې،تلاوتونه کوي نو په دې سره يې وژل نه معاف کيږي،همدارنگه يو کس قتل کوي او په ثبوت رسيږي نو که چيرته يې د مقتول ورثه قاتل ته ببنښه ونه کړي بيا هم د ټول امت په اتفاق ددې کس قصاص کول او وژل يې د اسلامي حکومت فرضيت دی اوس خو دغه قاتل مسلمان هم دی او کلمه هم وايي مگر وژل يې روا څه چې په اسلامي حکومت فرض کيږي،همداسي نور مثالونه...

اوس ديته راځو چې په موږ ټول امت باندې د اسلامي نظام قايمول فرض دي ځکه که چيرته اسلامي نظام قايم نشي او پرځای يې جمهوريت لکه په پاکستان کې چې حاکم دی نو بيا د قرانکريم ډېر هغه احکام چې د هغوئ عملي کول په موږ او تاسو فرض دي هغوئ معطل پاته کيږي ځکه جمهوري نظام د قرانکريم احکاماتو ته نعوذبالله ظلم وايي لکه: د قاتل قصاص کول،د غله لاس پرې کول،د زنا کارو سنگسار کول ، شراب خوړونکي ته درې ورکول او...لکه تاسو په خپلو سترگو وينئ چې له کومې ورځې چې پاکستان ازاد شوی تقريباً اتيا کلونه ووتل مگر د قرانکريم

یو حکم هم پکې عملي نشو او ترڅو چي جمهوریت پکې حاکم وي د قیامت تر ورځې به هم پکې عملي نشي ځکه جمهوریت او ددې احکامو عملي کول داسي دي لکه اور او اوبه چي سره یوځای کوې نو داچې جمهوریت یو کفري نظام دی او څوک یې چي ساتنه کوي هغه که فوج دی او یا هم بل څوک هغوی د کفر په صف کې شمیرل کیږي دا موږ منو چې دوی مسلمانان دي مګر داسي مسلمانان چې تش په نامه دي دوی چي هرڅومره کلمه ووایي او هرڅومره مدرسې او جوماتونه جوړ کړي بیا هم ددوی سره جهاد کول په موږ او تاسو فرض عین دي ځکه دوی د کفري نظام په صف کې راوتلي،دوهم داچې د اسلامي نظام قایمول په موږ او تاسو فرض عین دي ځکه الله تعالی موږ ته فرمایي:

وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ ٱنتَهَوْا۟ فَإِنَّ ٱللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ [سُورَةُ الأَنفَال(٣٩)

**ژباړه:** اې مؤمنانو! له دې کافرانو سره تر هغه پورې وجنګیږئ چي فتنه پاتې نه شي او ټول دین د الله لپاره شي بیا که هغوی له فتنې څخه لاس واخیسته، نو د هغو د عملونولیدونکی الله دی. دا چي الله ﷻ په پورته آیت کریمه کې د جهاد او قتال حکم د بس کولو انتهاء او پای دا ښودلی دی: او ترهغه وخته پورې له دوی سره وجنګیږئ کله چي ټول دین د الله تعالی لپاره شي،او د الله ﷻ یوازې هغه ټول د الله ﷻ لپاره کیدای شي کله چي د الله تعالی پر ځمکه د قرانکریم احکام پلي او اسلامي نظام قایم شي او شته کفري جمهوري نظامونه راونړول شي او زموږ روان جهاد به هم له فوج سره تر هغه پورې جاري وي ترڅو اسلامي نظام حاکم شوی نه وي، دا چې د اسلامي نظام قیام د پورته آیت او ګنو نورو ایاتونو په وجه په موږ او تاسو فرض عین دی نو د اسلامي نظام د قیام په وړاندې چي هرڅوک خنډ ګرځي نو

الله تعالی یې موږ ته په اړه په پورته آیت کې فرمايي: (وَقَٰتِلُوهُمۡ...) او دوی ووژنئ ترهغه وخته پورې چې اسلامي نظام حاکم شي نو د اسلامي نظام په وړاندې که زموږ مخته کافر راځي او که مسلمان پر موږ او تاسو یې وژل فرض دي.

## نن ورځ جهاد فرض عین دی مګر شتمن مو نفلي حاجونه کوي !

د جهاد مبارکه لاره دومره فضیلت لري تردې چې د مسجد حرام جوړول هم دومره فضلیت نلري سره له دې چې په مسجد حرم کې یو لمونځ کول د (١٠٠٠٠٠) یولک لمونځونو سره برابر دی نو تاسو خپله فکر وکړئ چې یو څوک مسجد حرم جوړ کړي او بیا هره ورځ پکې په زرهاوو خلک لمونځونه کوي نو هغه جوړونکي ته به یې څومره ثواب ورسیږي؟مګر له دې ټولو څخه هم یو غوره عمل شته دی چې هغه جهاد دی او باالخصوص په اوس وخت کې خو جهاد فرض عین دی او د الله په ذات قسم څوک چې اوس هم خپلې پیسي په نفلي حجونو او عمرو کې مصرفوي او بل طرف ته دده په نفس او مال جهاد ورباندې فرض عین دی مګر دی اوس هم په نفلي اعمالو کې پیسي لګوي او فرض ورڅخه پاته دي او بل طرف ته د اسلامي نظام قیام په خاطر مو غیرتي او ګلالي مجاهدین زلمي د یو څو مرمیو د نلرلو له امله په شهادت رسیږي مګر بل طرف ته مو شتمن په نفلي اعمالو د ریا او ځان ښودنې په خاطر پرې زرګونه ډالر مصرفوي داسي شتمن به الله ﷻ پخپلو نفلي حجونو او عمرو سره رانیولي وي؛جوماتونه اوس الحمدلله ښه ډېر دي اوس امت جهاد ته ضرورت لري د بزدلۍ او جهاد نه کولو له امله مو زرګونه جوماتونه اوس کفارو په کلیساوو، فاحشه خانو او نایټ کلبونو بدل کړي دي او موږ لا هم عبرت نه اخلو، او داچي د جوماتونو او مسجد حرم له جوړولو څخه جهاد غوره دی نو لاندې آیت مبارک په استدلال کې راوړو الله تعالی فرمايي:

أَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ ءَامَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ وَجَٰهَدَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ لَا يَسْتَوُۥنَ عِندَ اللَّهِ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظَّٰلِمِينَ* [سُوْرَةُ التّوبَة]

ایا تاسي حاجیانو ته اوبه ورکول، د مسجد حرام ودانول او مجاوري کول؛ د هغه چا له کار سره برابر ګڼلی دی، چي پر الله او د اخرت په ورځ يې ایمان راوړ او د خدای په لار کي يې جهاد وکړ؟ - د الله په وړاندي خو دا دواړه برابر نه دي؛ او الله د ظالمانو قوم ته لارښوونه نه کوي. امام قرطبي رحمه الله فرمايي: چي مسلمانانو پخپل منځ کې اختلاف وکړو نو یو کس وویل چي زه له ایمان راوړلو وروسته او بیا حاجیانو ته له اوبو ورکولو پرته د نورو اعمالو هيڅ پروا نلرم او بل تن وويل چي زه له ايمان وروسته چې مسجد حرم جوړ کړم نور د هيڅ اعمالو پروا نلرم او بل کس ورته وويل چې له دې ټولو اعمالو څخه جهاد غوره دی نو الله تعالی پورته آیت مبارک را نازل کړ چي هيڅکله د مسجد حرم آبادول له جهاد سره برابر نه دی..

## دجهاد فضیلت

الله تعالی فرمايي : **يأيها الذين امنو هل ادلكم على تجارة تُنجيكم من عذاب اليم تؤ منون بألله ورسوله وتجاهدون فى سبيل الله بأموالكم وانفسكم ذالكم خيرلكم ان كُنتم تعملون(سورة الصف: ١٠)**

**ژباړه:** اې مؤمنانو! آیا تاسو ته زه هغه تجارت ونه ښیم چې له دردناک عذاب څخه مو وژغوري؟ پر الله جل جلاله او د هغه پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم ایمان راوړئ او د الله جل جلاله په لار کښې په خپلو مالونو او خپلو ځانونو سره جهاد وکړئ! همدغه ستاسو لپاره بهتره ده که چیرته تاسو پوهیږئ!

## له الله تعالی سره په ځان سودا کول

همدارنگه الله تعالی فرمایي: **ان الله اشتری من المؤمنین انفسهم و أموالهم بأن لهم الجنة يقاتلون فی سبیل الله فيقتلون ویقتلون وعدأعلیه حقاً فی التوراة والانجیل والقران ومن اوفی بعهده من الله فاستبشـروا ببیعکم الذي بایعتم به و ذالك هو الفوزالعظیم** (سورة التوبة: ١١١)

**ژباړه:** حقیقت دادی چي الله جَلَّ جَلَالُهُ له مؤمنانو څخه د هغوئ ځانونه او د هغوئ مالونه د جنت په بدله کښې اخیستي دي هغوی د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کښې جنگیږي نو دوی هم کفار وژني او دوی هم وژل کیږي، له هغوی سره په تورات، انجیل او قرآن کښې د جنت وعده د الله جَلَّ جَلَالُهُ په ذمه باندې یوه کلکه او پخه وعده ده او څوک له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه زیات د خپلې ژمنې پوره کوونکی دی؟ نو له الله جَلَّ جَلَالُهُ سره په کړل شوې سودا باندې خوښ اوسئ او همدا تر ټولو ستر بریالیتوب دی.

## د جهاد شان او مرتبه

امام بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ په کتاب الجهاد کې یو حدیث مبارک راوړی: **ان ابوهریرة حدثه قال جاء رجل الی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال دلنی علی عمل یعدل الجهاد... الحدیث**

**ژباړه:** ابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حدیث بیانولو او ویل یې ماته داسي یو عمل راوښایه چي له جهاد سره برابر وي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چي زه داسي عمل نه مومم او بیا یې دا وویل ایا ته دا وس لري چې کله مجاهد د الله تعالی په لار کې ووځي نو ته خپل جومات ته ننوځې لمونځ کوي او ستړ یږې نه او روژه نیسي اوماتوې یې نه نو هغه کس ورته وایي چې دا به دچا په وس کې وي، نو خلاصه دا شوه چې داسي عمل نشته چي هغه دي له جهاد سره په ثواب کې برابر شي ځکه په هر یو عبادت او عمل کې چي تکلیف او مشقت زیات وي نو هغومره یې ثواب او فضیلت زیات

وي او داسي هېڅ کوم عمل نشته چې په هغه کې دي خپل شيرين وجود قرباني ته وړاندې شي ځکه خو جهاد د هرچا کار هم نه ده جهاد هغه خلک کوي چي هغه رجال يعنې نارينه وي.

## په جهاد کې د نيت برابرول

**قال ابوهريرة رضي الله عنه سمعت رسول صلى الله عليه وسلم يقول مثل الجهاد فى سبيل لله والله اعلم بمن يجاهد فى سبيله كمثل الصائم القائم وتوكل الله للمجاهد فى سبيله بأن يتوفاه ان يدخله الجنة اويرجعه سالما مع اجر اوغنيمة روا (البخاري كتاب الجهاد صفحه ۳۹۱)**

**ژباړه:** ابوهريره رضي الله عنه وايي چي ماله رسول صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چي ويل به يې: مثال دهغه مجاهد چي دالله جل جلاله په لار کې وي او الله جل جلاله په هغه چا ښه پوه ده چي هغه دده په لار کې وي داسي مثال لري لکه څوک چي د شپې تهجد کوونکی او د ورځې له مخې روژه دار وي او الله جل جلاله د مجاهد په حق کې ددې ذمه واري اخيستې چي کله هغه وفات کړي نو هغه به جنت ته داخل کړي او که چيرته يې د جهاد له ډګر څخه روغ را وګرځوي نو له ثواب او يا هم غنيمت سره به يې راګرځوي.

درنو لوستونکو تاسو يوې مهمې نقطې ته متوجه کووم هغه دا چې: د مجاهد له جهاد څخه نيت خاص دالله تعالى رضا مقصود وي نوځکه خو د الله رسول صلى الله عليه وسلم د حديث په منځ کې وايي چي الله تعالى په هغه چا پوه ده چې دده په لار کې جهاد کوي يعنې ټول مجاهدين د الله تعالى په لار کې نه دي بلکي اصل مجاهدين هغه څوک دي چي مقصود يې د الله جل جلاله رضااو دا چي دالله جل جلاله کليمه لوړه شي.

## شهيدان ژوندي دي

الله تعالى په قران مجيدکې فرمايي: **ولاتحسبن الذين قتلوافى سبيل الله امواتا بل احياء عند ربهم يرزقون فرحين بما اتهم الله من فضله (سورة آل عمران: ۱۷۰)**

**ژباړه:** په هغو کسانو چې د الله ﷻ په لارکې وژل شوي د مړو گومان پرې مه کوئ بلکې دوئ ژوندي دي له خپل رب سره په نږدې مقام او مرتبه کې هغوئ ته روزي ورکول کیږي،دوئ په هغه بهتري چې الله ﷻ ورکړې ده خوشحاله دي.

عزتمنو! لوستونکو شهیدانوته الله تعالی یوداسي ژوند ورکړی ده چې هغه ددې دنیا د ژوند په څیر نه ده ځکه ددې نړئ ژوند د هغه بلې نړئ په ژوند ورقیاس کول هم د عقل او هم د نقل خلاف عمل دی اوکله کله الله تعالی د شهیدکرامت ښکاره کوي هغه پداسي ډول چې کلونه کلونه یې د شهادت وتلي وي مگربیا هم خراب شوی نه وي سره له دې چې یو مړی په شپږو میاشتو کې تقریباً مکمل خرابیږي دا خوپریږده چې ویښتان،نوکان یې لاهم اوږده شوي وي دداسي کرامتونو موږ په تیر جهاد کې او په اوسني جهاد کې شاهدان یو.

## د شهادت فضیلت

**عن سمرة قال قال النبی ﷺ رأیت الیلة رجلین ایتانی فصعدا ابی الشجرة فادخلانی داراًهی احسن وافضل لم ارقط احسن منها قالا اما هذه الدار فدار الشهداء (رواه البخاری مخ ۳۹۲)**

**ژباړه:** نبي ﷺ وایي چې ما یوه شپه دوه کسان ولیدل چې راغلل نو زه یې یوې ونې طرف ته پورته کړم نو یو کورته یې ننه ایستم گورم چې یو داسي غوره اوبهتره کور و چې ما بیا ترهغه ښکلی او بهتره کور نه و لیدلی نو هغو دوو کسانو وویل چې دغه کور د شهیدانو ده.

## له الله تعالی څخه د شهادت د سوال فضیلت

**قال رسول الله ﷺ من سأل الله الشهادة بلغه الله منازل الشهداء وان مات علی فراشه (رواه مسلم،مشکاة المصابیح،کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** رسول الله ﷺ فرمایلي دي: چاچې له الله څخه په رښتوني ډول سره د شهادت سوال وکړ،الله تعالی به يې د شهیدانو مرتیو ته ورسوي اگر که پخپل بستر مړ هم شي. دا چي الله ﷻ یو چاته فقط د شهادت په سوال کولو سره یو دومره لوی مقام ورکوي نو که چیرته یو څوک د جهاد په لاره کې ډول ډول تکلیفونه په ځان تیر کړي او باالاخره په شهادت رسیږي نو تاسو خپله فکر وکړئ چي د یو داسي کس به څومره لوړ او اعلی مقامات وي؟

## دد نیا د یو غرض لاس ته راوړلو لپاره جهاد کول

**عن ابی هریرة رضي الله عنه ان رجلا قال یارسول الله رجل یرید الجهاد فی سبیل الله وهو یبتغی عرضا من عرض الدنیا فقال النبی ﷺ لا اجر له (رواه ابوداود،مشکاة المصابیح،کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی :بیشکه یوسړي وویل یارسول الله ﷺ یوسړی ده چي دالله ﷻ په لارکې د جهاد اراده لري خو په داسي حال کې چي د دنیا سامان هم لټوي نو نبي ﷺ ورته وویل دده لپاره هیڅ کوم اجر نشته.

## د یو صحابي مبارک له شهادت سره مینه

**عن انس ابن مالك رضي الله عنه قال انطلق رسول الله ﷺ واصحابه حتی سبقوا المشرکین الی بدر وجاء المشرکون فقال رسول الله ﷺ قوموا الی جنة عرضها السموات والارض قال عمیر بن الحمام بخ بخ فقال رسول الله ﷺ مایحملك علی قولك بخ بخ قال لا والله یارسول الله الا رجاء ان اکون من اهلها قال فانك من اهلها قال فاخرج تمرات من قربة فجعل یأکل منهن ثم قال لئن انا حییت حتی اکل تمراتی انها الحیاة طویلة قال فرمی بما کان معه من التمر ثم قاتلهم حتی قتل (رواه مسلم،مشکاة المصابیح،کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** انس ابن مالک رضي الله عنه وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصحابه يې روان شول تر دې چې له مشرکينو څخه دمخه بدرته ورسيدل او مشرکان راغلل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل :هغه جنت ته ورپورته شئ چې د هغه سور د اسمانونو او ځمکو هومره دی،عميربن الحمام وويل اخ اخ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:څه شيا ددې سبب وگرځيدلو چې اخ اخ ووايې،هغه وويل نه زما دي په الله جل جلاله سره قسم وي چې مانه دي ويلي مگر ددې په اميد چې زه د جنت له اهل څخه شم رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل بيشکه ته يې له اهل څخه يې راوي فرمايي:چې همدې صحابې مبارک د غشو له کڅوړې څخه خرماوي راويستلي او د هغو په خوړلو يې پيل وکړ او بيايې دا وويل چې دا به ډېر اوږد عمر وي چې زه ژوندی يم او دا خرماوې ختموم راوي فرمايي: هغه کومي خرماوې چې ورسره وې هغه يې وغورځولې بيا له مشرکانو سره ترهغه وجنگيده ترڅو چې دغه صحابي مبارک هم د شهادت لوړ مقام ته ورسيدلو.

## د يوساعت په اندازه د الله جل جلاله په لارکې د تېرولو غوره والی

**قال النبی صلی الله علیه وسلم لروحة ولغدوة فی سبيل الله افضل من الدنيا وما فيها (رواه البخاری مخ ٣٩٢)**

**ژباړه:** يو ماښام او يا يوسهار دالله جل جلاله په لار کې تيرول له دنيا او له ټولو هغو نعمتونو څخه چې په دې دنيا کې دي غوره او بهتره دي.

## د غوره مجاهد صفت په احاديثو کې

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: **طوبی لمجاهد اخذ بعنان بفرسه فی سبيل الله ان کان فی الحراسة کان فی الحراسة وان کان فی الساقة کان فی الساقة وان استأذن لم يوذن له وان استشفع لم يشفع له (تفسير المظهری ٢)**

**ژباړه:** هغه مجاهد لره خوشحالي ده چې د الله ﷻ په لار کي يې د خپل آس واګي نيولي وي که چيرته يې امير پيرې ته ليږي نو په پيره کې وي او که چيرته يې له غازيانو سره جنګ ته ليږي نو بيا په لښکر کې وي که چيرته اجازه وغواړي اجازه نه ورکول کيږي او که چيرته د چا سفارش کوي نو سفارش يې نه قبليږي.
هدف دا چې د مجاهدينو او خلکو په منځ کې مشهوره نه وي مگر په ټولو شرعي امورو کې د خپل امير اطاعت کوي هغه که د آساني حالت وي او که د سختي،داسي خلک خو د خلکو په منځ کې غير مشهور دي مگر د الله تعالى په نزد دغه خلک ډېره لويه مرتبه لري .

## د قيامت په ورځ د خيانت كوونكي مجاهد شرمنده كي

**له عباده ابن صامت رضي الله عنه څخه روايت دی: كان النبى ﷺ يأخذ الوبرة من جنب البعير،ثم يقول: مالى فيه الا مثل ما لأحدكم ثم يقول اياكم والغلول فان الغلول خزى على صاحبه يوم القيامة فأدو الخيط ولمخيط و ما فوق ذالك وجاهدوا فى الله القريب والبعيد فى الحضر والسفر فان الجهاد باب من ابواب الجنة وانه ينجى صاحبه من الهم والغم وأقيموا الحدود فى القريب والبعيد ولا تأخذكم فى الله لومة لائم(رواه سنن البيهقى الكبرى،الحاكم واحمد)**

**ژباړه:** له حضرت عباده ابن صامت رضي الله عنه څخه روايت شوی دی چي رسول الله ﷺ يوه ورځ د اوښ له اړخ څخه ويښته راواخيستلو بيايې وويل: زما د بيت المال(غنيمت) په دې مال کې هيڅ حق نشته مګر دومره حق مې شته لکه څومره چي ستاسو د يو کس څومره حق ده او بيايې وفرمايل: ځان وساتئ له خيانت کولو څخه ځکه همدغه خيانت به بيا د قيامت په ورځ د همدې خيانت کوونکي لپاره رسوايي او شرمنده ګي وي نو بيت المال ته تار هم راوړئ او ستنه هم راوړئ او له

دې پورته شیا هم راوړئ او د الله په لاره کې له نړدې او لرې کفارو سره جهاد وکړئ او په اقامت او سفر دواړو کې جهاد وکړئ بیشکه جهاد یوه دروازه له دروازو د جنت څخه ده او بیشکه جهاد کول مجاهد ته له هم او غم څخه نجات ورکوي(هم: هغه غم ته وایي چې وجه یې معلومه نه وي او غم هغه ته وایي چې وجه یې معلومه وي) او حدود په خپل نږدې خپل او پردي ټولو باندې جاري کړئ او د الله تعالی په لاره کې د هیڅ کوم ملامت کوونکي د ملامتیا پروا مه لرئ.

## څوک چې د قوم پرستۍ او یا هم د پښتونولۍ په خاطر جنګ کوي

له حضرت ابو هریرة ﵁ څخه روایت دی: چې رسول الله ﷺ وفرمایل:

**من قاتل تحت راية عمية يدعو الى عصبية او يغضب لعصبية فقتلة جاهلية (رواه ابن ماجه)**

**ژباړه:** څوک چي د قوم پرستي تر بیرغ لاندې جنګ کوي همدارنګه خلک قوم پرستي ته رادعوت کوي او یا هم د قوم پرستي په خاطر په غوسه کیږي نو دغه کس که چیرته مړ شو نو د جاهلیت په مرګ مړ دی.

همدارنګه له حارث الاشعري څخه هم روایت شوی دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل څوک چي د جاهلیت شعارونه راپورته کوي بیشکه داسي خلک به د جهنم له شګو او ډبرو څخه وي نو یو سړي وویل: اګر که لمونځ کوي او روژه هم نیسي نو ورته ویې فرمایل: هو اګر که لمونځ کوي او روژه نیسي،نو تاسو یو بل په هغه نامه سره رابولئ په کوم نوم چي الله تعالی تاسو نومولي یاست په مسلمانانو،مؤمنانو او د الله تعالی د بنده ګانو په نوم. نو د اسلام په مبارک دین کې د قوم پرستي په خاطر جنګیدل یو حرام عمل دی او په دې لاره کې مرګ ته حضور ﷺ د جاهلیت مرګ ویلی او د جاهلیت مرګ خو د کفر مرګ دی نو د پښتونولي او د قوم پرستي تر بیرغ لاندې جنګ کول یو لوی خطرناک کار دی چي په دې سره د انسان ایمان په خطر کې لویږي.

## مجاهد به ضرور په ټولو شرعي امورو کې د خپل امیر اطاعت کوي

له حضرت عباده ابن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی:

**دعانا النبی صلی الله علیه وسلم فبایعناه فقال: فیما أخذ علینا أن بایعنا علی السمع والطاعة فی منشطنا ومکرهنا وعسرنا ویسرنا وأثرة علینا وأن لا ننازع الأمر أهله الا أن تروا کفرا بواحا عندکم من الله فیه برهان (رواه البخاري)**

**ژباړه:** موږ نبي صلی الله علیه وسلم ور وغوښتلو بیا موږ بیعت ورسره وکړو نو په همدې بیعت کې چي په موږ یې لازم کړی هغه دا و چې موږ به د خپل امیر خبرې ته غوږ نیسو او وروسته به یې د خوښي او ناخوښي په دواړو حالاتو کې او همدارنګه د آساني او سختي پر وخت به یې اطاعت کوو او په هغه وخت کې به یې هم اطاعت کوو کله چې زموږ امیر په موږ باندې یو څوک غوره او مشر وګرځوي او موږ به د خپل امیر سره تر هغه وخت جنګ او په خلاف به یې بغاوت نه کوو ترڅو چې مو له خپل امیر څخه ښکاره کفر نه وي لیدلی داسي کفر چې بیا مو د الله تعالی په نزد زموږ لپاره حجت او دلیل وي.

نو ګرانو مجاهدینو ورونو موږ او تاسو باید ډېر احتیاط وکړو،زیاتره مجاهدین یوازې په هغه وخت کې د خپل امیر اطاعت کوي کله چې د راحت او خوشحالي حالت مګر کله چې د جنګ حالت وي او یاهم فقر او یا کوم تکلیف حالت وي او یا داچې امیر خپل مجاهد ته خرچه ور نه کړي بیا نو د خپل امیر اطاعت نه کوي او د دنیا په خاطر په خپل امیر پسې غیبت کوي او هغه بد یادوي نه داسې هېڅکله باید نه وکړو ځکه د خوشحالي او راحت په حالت کې خو هر څوک اطاعت کوي اصل اطاعت هغه ده چې د تکلیف او مشقت په وخت کې وشي او زیاتره وخت چې له ځینو مجاهدینو څخه بې اطاعتي کیږي کله امیر یو څوک وربانديې مشر کړي بیا نو خبرې شروع کړي چې تردې کس خو فلانکی کس وړ و نو پورته حدیث مبارک کې ذکر

وشو چي په همدغه وخت کې به موږ ځانګړی اطاعت کوو ځکه موږ له هغو حکمتونو څخه نه یو خبر له کوم نه چي زموږ امیر خبر دی او هرڅوک خو د مشري او رهبري وړ هم نه وي ځیني خلک ډېر تکړه وي مګر د رهبري صلاحیت نلري موږ او تاسو باید په داسي وخت کې صبر وکړو ځکه مشري یو کوم امتیاز نه دی بلکه یو لوی آلهي درووند بار او مسؤلیت دی او په دې کې زموږ لپاره بهترین او غوره نمونه هغه ده: کله چې رسول الله ﷺ د مسلمانانو یو لښکر لیږلو نو په دې لښکر کې د ابوبکر رضي الله عنه په شمول لوی لوی صحابه کرام یې د ۱۷ اوولس کلن ځوان حضرت اسامه رضي الله عنه تر مشري او اطاعت لاندې راوستل،او دا معلومات خو هرچاته و چي ابوبکر صدیق رضي الله عنه یو لوی جلیل قدر صحابې دی مګر بیا یې هم ددې لپاره د یو کشر ځوان په اطاعت کې راوست ترڅو ټول امت ته په اطاعت کې یوه نمونه پاته شي او تاریخ دا ولېکي چې اصل اطاعت همدېته وایي او بل دا چي د کوم مجاهد چي هدف د الله تعالی رضا وي نو هغه رضا اوس په دې کې پیدا کولای شي چي په دې کار کې د خپل امیر اطاعت وکړي او د الله تعالی خفګان بیا په دې کې دی چي ځانته او یا هم په دې پلمه بل چاته مشري غواړي او د مجاهدینو په منځ کې منافقت او اختلافات خپروي.

## د ولس حق په یو مسؤل او مجاهد باندې

محترمو مجاهدینو داچې موږ او تاسو د خپل ولس لپاره مسؤل یو او الله تعالی به د دوی په حق کې له موږ څخه پوښتنه کوي نو لازمه ده چي له خپل ولس سره په ډېر اخلاص او صداقت کي وو ځکه له حضرت معقل ابن یسار رضي الله عنه فرمایي چې ما خپله له رسول الله ﷺ څخه واوریدل چي ویل به یې: کله چې الله تعالی خپل یو بنده لره د رعیت چاري وروسپاري او دی په داسي حالت کې مړ شي چې له خپل

رعیت او ولس سره خیانت کوونکی وي نو ضرور به الله تعالی په دې کس جنت حراموي. (رواه المسلم)

## د جنګ په وخت کې به مجاهد صبر او ذکر کوي

الله تعالی فرمایي: **اذا لقيتم فئة فاثبتوا واذكروا الله كثيرا لعلكم تفلحون** (سورة الأنفال: ۴۵)

**ژباړه:** ای مؤمنانو کله چې له کومې ډلې سره ستاسي مقابله وي، نو کلک ولاړ اوسئ او الله جَلَّ جَلَالُهُ ډېر ډېر یادوئ ددې لپاره چې تاسو ته بری در په برخه شي.

همدارنګه د الله رسول ﷺ په هغه حدیث مبارکه کې چې امام بخاري په کتاب الجهادکې ذکرکړی ده فرمایي: اذا لقيتموهم فاصبروا: یعنې کله چې تاسوله دوی سره مخامخ شوئ نو صبرکوئ.

## شهید به ولې بیرته دې د نیا ته دراتلو هیله لري

**عن انس ابن مالك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن النبى ﷺ قال ما من عبد يموت له عند الله خير يسره ان يرجع الى الدنيا وان له الدنيا وما فيها الا الشهيد لما يرى من فضل الشهادة فانه يسره ان يرجع الى الدنيا فيقتل مرة اخرى (رواه ابخارى، كتاب الجهاد، مخ ۳۹۲)**

**ژباړه:** انس ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له نبي ﷺ نه روایت کوي: کله چې یو بنده وفات شي او دالله جَلَّ جَلَالُهُ په نزد یې داسي مقام وي چې پکې خوشحاله وي(یعني جنتي وي) او بیا دي هم دی دا طمع ولري چې دې دنیا ته بیا راشي او بیا به هم دې دنیا ته د بیا راتلو ارزو ونلري اګر که په بدل کې ورته دنیا اوځه چې پکې دي ورکړشي (داهرڅه به خوښ نه کړي) مګر یوازې شهید به دا خوښوي چې بیرته دنیا ته راشي او بیا د الله جَلَّ جَلَالُهُ په لار کې ووژل شي ځکه شیهد به د شهادت مقام او بهتريویني.

## دشهادت تمنا كول

**عن ابی هریرة رضی الله عنه قال سمعت النبی صلی الله علیه وسلم یقول والذی نفسی بیده لولا ان رجالا من المؤمنین لاتطیب انفسهم ان یتخلفوا عنی ولا اجد ما أحملهم ما تخلفت عن سریه تغزو فی سبیل الله والذی نفسی بیده لوددت انی اقتل فی سبیل الله ثم احیی ثم اقتل ثم احیی ثم اقتل ثم احیی ثم اقتل (رواه البخاری،كتاب الجهاد،مخ ۳۹۲)**

**ژباړه:** له ابوهريره رضي الله عنه نه روايت ده،دی وايي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوريدل چې ويل به يې: زمادي قسم وي په هغه ذات باندې چې زما روح يې په لاس کې ده که ځيني مؤمنان په دې نه خفه کيدل چې له مانه وروسته پاته شي او ماسره هم هغه څه نشته چې دوئ پرې سواره کړم نوزه به هيڅکله له هغه ټولگي څخه شاته پاته شوي نه وای کوم چې دالله په لار کې غزا کوي، زما دې قسم وي په هغه ذات باندې چې زما روح د هغه په لاس کې ده چې زه دا خوښووم چې د الله تعالی په لار کې ووژل شم بيا را ژوندی کړی شم بيا ووژل شم بيا راژوندی کړی شم،بيا ووژل شم بيا راژوندی کړی شم او بيا ووژل شم.

سبحان الله! شهادت هغه مقام دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم يې له نبوت،رسالت او له نورو لوړو کمالاتو سربيره بيا هم دځان لپاره غواړي له دې څخه موږ ته دغه عبرت پاته کيږي چې شهادت يو ډېر لوی مقام او مرتبه ده چې پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم يې تمنا کوي.

## په جنت کې د شهيد درجې

رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه يو حديث مبارک کې فرمايي چې روايت يې امام بخاري رحمه الله په کتاب الجهاد کې کړی ده: **ان فی الجنة مائة درجة اعدها الله للمجاهدین فی سبیل الله مابین الدرجتین كما بین السماء والارض ...الی اخره الحدیث.**

**ژباړه:** بیشکه په جنت کې سل درجې دي چې الله تعالی د مجاهدینو لپاره تیارې کړې دي، په منځ دهرو دوو درجو کې دومره مسافه ده لکه څومره مسافه چې د آسمان او ځمکې په منځ کې ده.

## له جنګ څخه دمخه د کفارو اسلام ته دعوت کول

**عن ابی البختري ان جیشا من جیوش المسلمین کان امیرهم سلمان الفارسی حاصروا قصرا من قصور فارس فقالوا یا اباعبد الله الا ننهد الیهم قال دعونی ادعوهم کما سمعت رسول الله ﷺ یدعوهم فاتاهم سلمان انا رجل منکم فارسی ترون العرب یطیعونی فان اسلمتم فلکم مثل الذی لنا وعلیکم مثل الذی علینا وأن ابیتم الا دینکم ترکناکم علیه واعطونا الجزیة عن ید وانتم صاغرون و رطن الیهم بالفارسیة وانتم غیر محمودین وان ابیتم نابذناکم علی سواء قالوا مانحن بالذی یعطی الجزیة ولکنا نقاتلکم فقالوا یا اباعبد الله الا ننهد الیهم قال لا فدعاهم ثلاثة ایام الی مثل هذا ثم قال انهد الیهم قال فنهدنا الیهم ففتحنا ذلك القصر (رواه الترمذي، کتاب الجهاد مخ: ۲۸۲)**

له ابوالبختري څخه روایت ده: بیشکه د مسلمانانو یو لښکر له لښکرونو څخه چې امیر یې سلمان فارسي رضي الله عنه وه یوه ماڼۍ له ماڼیو دفارس څخه یې محاصره کړه نو دوی ورته وویل ای ابو عبدالله ایا حمله ورباندي ونه کړو؟ سلمان فارسي رضي الله عنه ورته وویل: ما پریږدئ چې دوی په داسي ډول سره د اسلام مبارک دین ته را دعوت کړم لکه څنګه چې ما اوریدلي چې رسول الله ﷺ به دعوت کولو نوسلمان رضي الله عنه ورته راغی نو هغوی ته یې وویل زه ستاسو د فارسیانو څخه یوسړی یم او تاسو وینئ چې عرب زما اطاعت کوي که چیرته اسلام راوړئ نو ستاسو لپاره به هغه حقوق وي کوم چې زموږ لپاره دي اوپه تاسو به هغه څه لازم وي کوم چې په موږ باندې لازم وي، که تاسو له خپل دین څخه نه تیریږئ نوموږ ته ټیکس راکړئ پداسي حال کې چې بیا به تاسو نه عزتمن او نه به تاسو ستایل شوي خلک یاست، روای وایي

سلمان رضي الله عنه په فارسي ژبه ورسره ګډ شو او که منع وکړئ موږ به تړون ستاسو په شان په مساوي ډول درسره مات کړو،نو هغوی وویل موږ هغه ډول قوم نه یو چي تاسو ته به جزیه درکړو مګر جنګ درسره کوو نو صحابه کرامو رضي الله عنهم سلمان رضي الله عنه ته وویل ای ابوعبدالله ایا حمله پرې نه کوو؟

سلمان فارسي رضي الله عنه ورته وایي:نه نو بالاخره یې هغوی درې ورځې پرلپسې په همدغه شکل د اسلام مبارک دین ته را دعوتول، د بیا ځل لپاره بیا صحابه کرام رضي الله عنهم سلمان فارسي رضي الله عنه ته راغلل او دا یې ورته وویل چي آیا حمله پرې وکړو،راوي مبارک فرمایي چې بیا کله موږ پر دې ماڼۍ حمله وکړه نو هغه ماڼۍ مو فتحه کړه.

## د الله جل جلاله په لارکې د پیره کوونکي مقام او مرتبه

**عن ابن عباس قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم عینان لا تمسهما النار عین بکت من خشیة الله وعین باتت تحرس فی سبیل الله (رواه الترمذی، مشکاة المصابیح، کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** له ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: دوه سترګې دي چي هغوی ته به د جهنم اور ونه رسیږي یوه هغه سترګه ده چي د الله جل جلاله له ډاره وژاړي او بله هغه سترګه ده چي شپه د الله جل جلاله په لاره کې په پیره تېره کړي.

## جهاد ته په تللو کې صرف د یوې رسۍ د تر لاسه کولو د نیت خطر

**عن عبادة بن صامت قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من غزا فی سبیل الله ولم ینو الا عقالا فله ما نوی (رواه النسائی، مشکاة المصابیح، مخ: ۳۳۴)**

**ژباړه:** له عبادة بن صامت رضي الله عنه څخه روایت ده دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چاچې د الله جل جلاله په لاره کې غزا وکړه او له یوې رسۍ څخه پرته یې د بل هیڅ کوم شي نیت ونه کړ نو دده لپاره به هغه څه وي چې دکوم څه شي نیت یې کړی وي.

یعنې د الله جل جلاله په نزد دې کس لپاره پرته له دې بیکاره رسۍ څخه نور هېڅ کوم اجر او ثواب نشته.

## د اسلامي سرحد ساتل

امام مسلم رحمه الله په کتاب الجهاد کې یو حدیث مبارک راوړی: **عن سلمان الفارسی رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول رباط یوم ولیلة فی سبیل الله خیر من صیام شهر وقیامه وان مات جری علیه عمله الذی کان یعمله واجری علیه رزقه وامن الفتان (مشکاة المصابیح، کتاب الجهاد، مخ ۳۲۹)**

**ژباړه:** سلمان فارسي رضي الله عنه وایي ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې ویل به یې الله جل جلاله په لار کې د یوې ورځې او شپې په اندازه د کفارو په وړاندې د اسلامي سرحد ساتل د یوې میاشتې له روژې او یوې میاشتې د شپې له عبادت کولو څخه غوره ده او که په همدغه حالت کې مړ شي نو دده عمل به ورپسې جاري شي او رزق ورکول به ورته جاري او د قبر له امتحانونو څخه په آمن کې شي.

ملاعلي قاري رحمه الله د پورتني حدیث مبارک په تشریح کې فرمایي: چې په داسي کس پسې به تل ترتله دغه ثواب جاري وي، سبحان الله! نور چې څومره اعمال دي د هغوی ثواب او اجر هم تر هغه وخته پورې په انسان پسې رسیږي ترڅو چې د هغه عمل او کار خلکو ته خیر رسیږي کله چې هغه عمل قطع کیږي نو ثواب یې هم پای ته رسیږي مګر جهاد یو داسي عظیم او د الله جل جلاله په نزد دومره د قدر وړ

عمل ده چې د اسلام سرحد په ساتلو سره داسي مجاهد ته د قیامت تر ورځې پورې عمل جاري کوي او دا خو لا څه چې په حدیث مبارک کې د (نما) لفظ راغلی دی چي لغوي معنا یې ده پرورش یعنې لویدل نو په دې سره یې یوه داسي معنا هم کولای شو چي الله ﷻ به مجاهد ته دغه عمل نور هم لویوي لکه څنګه چې یو کوچنی نبات لویږي همداسي الله ﷻ به ددې مجاهد عمل ورته لویوي ان شاءالله.

## دمجاهد د پښو دګرد ارزښت

**قال رسول الله ﷺ ما اغبرت قدما عبد فی سبیل الله فتمسه النار(رواه البخاری،مشکاة المصابیح مخ ۳۲۹)**

**ژباړه:** نه په ګرد کیږي دوه قدمونه دیوه بنده دالله تعالی په لار کې چې بیا دي هغه ته د جهنم اور ورسیږي. داچي د جهاد په دې سپیڅلي لاره کې د یو مجاهد ګرد دومره عجیبه فضیلت لري نو تاسو خپله فکر وکړئ چې د جهاد په لاره کې نور لوی لوی مشقتونه او تکلیفونه تیرول به څومره اجرونه او ثوابونه لري؟

## د غزا ډولونه او د مجاهد صفتونه

**عن معاذ رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الغزو غزوان فاما من ابتغی وجه الله واطاع الامام وانفق الکریمة ویاسر الشریك واجتنب الفساد فان نومه ونبهه اجر کله واما من غزا فخرا وریاء وسمعة وعصی الامام وافسد فی الارض فانه لم یرجع بالکفاف(رواه مالك وابوداود والنسائی،مش کاة المصابیح مخ ۳۳۴)**

**ژباړه:** له معاذ رضي الله عنه څخه روایت ده چي رسول الله ﷺ وفرمایل غزا په دوه قسمه ده:هرچا چې د الله ﷻ رضا لټوله،دامام اطاعت یې کولو،د خپلو غوره مالونو څخه یې په مجاهدینو خرچه کوله،له ملګري سره یې نرمي کوله او له فساد څخه یې ډډه کوله ،نو بیشکه دداسي مجاهد خوب اوبیداري ټول یې په ثواب کې شمیرل

کیږي او چا چې د فخر او ریا په خاطر جهاد وکړو،او یا ددې لپاره چي خلک یې یادکړي او د خپل امام او امیر نافرماني یې وکړه او په ځمکه کې یې فساد وکړ بیشکه دغه کس له جهاد څخه سرپه سر هم نه راګرځي.

یعنې ددې دوهم کس خو ثواب له سره نشته بلکه دا خو پریږده سر په سر هم نه راګرځي بلکې له لومړي سر څخه به یې له ګناه پرته نور هېڅ کوم اجر او ثواب نه وي.

## د یو مجاهد د تیارولو فضیلت

**من جهز غازیاً فی سبیل الله فقد غزا ومن خلف غازیاً فقد غزا(رواه البخاری،مشکاة المصابیح مخ ۳۲۹)**

**ژباړه:** چاچي مجاهد دالله په لار کې تیار کړوبیشکه هغه غزا وکړه.

درنولوستونکو! چاچې غازي ته اسلحه،موټر،موټرسایکل،بوټونه او... واخیستل او یا یې هغه په فکري او ذهني ډول دېته تیارکړ چي جهاد وکړي نو بیشکه دغه کس هم جهاد وکړ،نو بناءً علمي خلک علماء،طلباء،محصلین او زده کوونکي دي په دې برخه کې له خپل خدای ورکړل شوي استعداد څخه د وینا او جهادي فکر جوړونې په برخه کې شپه او ورځ کوښښونه او هلې ځلې وکړي چې په فکري او ذهني ډول ویده ولسونه د جهاد لارې ته را دعوت او د غفلت له خوبه یې راویښ کړي او که خدای مه کړه څوک دې مسؤلیت ته د مسؤلیت په سترګه ونه ګوري نو دا به له ټول اسلامي امت سره یوه ستره او لویه جفا وي اعاذنا الله منه.

## د یو مجاهد کورنۍ د نفقې ورکولو فضیلت

**من خلف غازیاً فقد غزا(رواه البخاری،مشکاة المصابیح مخ ۳۲۹)**

**ژباړه:** چاچي د مجاهد د اهل او عیال اصلاح وکړه یعنې د هغوی نفقه یې په خپله غاړه واخیسته او د غازي د کور حفاظت یې په خپله غاړه واخیستلو نو بیشکه همدې کس هم غزا وکړه.

## د مجاهدینو د ښځو مقام او مرتبه

**قال رسول الله ﷺ حرمة نساء المجاهدين على القاعدين كحرمة امهاتهم وما من رجل من القاعدين يخلف رجلا من المجاهدين فى اهله فيخونه فيهم الا وقف يوم القيمة فياخذ من عمله ما شاء فما ظنكم (رواه مسلم، مشكاة المصابيح مخ: ۳۳۰)**

**ژباړه:** د مجاهدینو دښځو حراموالی په هغه ناستو خلکو داسي دی لکه څنګه چي خپلي میندې په هغوی حرامي دي او کله چي یو مجاهد په خپل کور کې یو څوک نایب جوړ کړي او بیا دغه په کور ناست او نایب د مجاهد له کورنۍ سره خیانت وکړي،نو د قیامت په ورځ به دغه خاین ودرول شي نو مجاهد به یې له اعمالو څخه دومره اعمال د خپل ځان لپاره را واخلي څومره یې چي خوښه وي نوستاسوڅه ګمان دی.

**عزتمندو!** رسول ﷺ دحدیث مبارک په اخر کې یوې عجیبه نقطې ته اشاره وکړه هغه دا چي :ستاسو څه ګمان دی: دا په دې معنا چي کله هم د قیامت ورځ وي او هر څوک اعمالو ته ډېر زیات محتاجه وي نو تاسو خپله فکر وکړئ چي مجاهد به څومره اعمال ورڅخه واخلي یعنې ډېر زیات اعمال به ورڅخه یوسي.

## د سمندري جهاد فضیلت په نورو جهادونو

**عن ام حرام عن النبى ﷺ قال المائد فى البحر الذى يصيبه القئ له اجر شهيد والغريق له اجر شهيدين (رواه ابوداو، مشكاة المصابيح، كتاب الجهاد)**

**ژباړه:** له ام حرام رضي الله عنها څخه روایت شوی دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په سمندر کې هغه غوپې وهونکي مجاهد ته چي کله قی ورشي نو الله جل جلاله ورته د یو شهید اجر ورکوي او که چیرته په سمندر کې ډوب شي نو الله جل جلاله ورته د دوو شهیدانو اجر ورکوي.

## د شهید د زخم او وینې مقام او مرتبه

**قال رسول صلی الله علیه وسلم لا یکلم احد فی سبیل الله والله اعلم بمن اعلم یکلم فی سبیله الا جاء یوم القیامة و جرحه یثعب دما اللون لون الدم والریح ریح المسك (متفق علیه، مشكاة المصابیح، کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** نه زخمي کیږي هیڅوک د الله جل جلاله په لاره کې، الله جل جلاله په هغه چا ډیر ښه پوه او باخبر دی چي هغه دده په لار کې زخمي کیږي، مګر که چیرته زخمي شي نو د قیامت په ورځ به راوستل شي زخمونه به یې وینه غورځوي داسي وینه چي رنګ به یې د وینو وي او بوی به یې د مشکو په شان خوشبویه وي.

## د جنت دروازې د تورو تر سیورو لاندې دي

**عن ابی موسی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان ابواب الجنة تحت ظلال السیوف فقام رجل رث الهیئة فقال یا أباموسی انت سمعت رسول صلی الله علیه وسلم یقول هذا قال نعم فرجع الی اصحابه فقال اقرء علیکم السلام ثم کسر جفن سیفه فالقاه ثم مشی بسیفه الی العدو فضرب به حتی قتل (رواه مسلم، مشكاة المصابیح، کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** له ابوموسی رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل بیشکه دجنت دروازې د تورو تر سیورو لاندې دي ؛نو یو ببر هیئت والا سړی پورته شو او دا یې وویل ای ابو موسی آیا تاپخپله له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه همداسي اوریدلي دي؟ هغه ورته وایي: هو؛ نو همدغه کس خپلو ملګرو ته بیا راوګرځید او ورته یې ویل زه

په تاسو سلام وایم بیایې د خپلې تورې پوښ مات کړ او یو طرف ته یې گوزار کړ او له ایستل شوې تورې سره د دښمن په طرف لاړ او تر هغو پورې یې په دې توره له دښمن سره جنگ وکړ ترڅو چي دی هم په شهادت ورسېد، **نحسبه كذالك والله حسيبه.**

## کوم شهادت گناهونه له منځه وړي

**عن ابى قتادة ان رسول الله ﷺ قام فيهم فذكرهم ان الجهاد افضل الاعمال فقام رجل فقال يارسول الله ارأيت ان قتلت فى سبيل الله يكفر عنى خطاياى فقال له رسول الله ﷺ نعم ان قتلت فى سبيل الله وانت صابر محتسب مقبل غير مدبر ثم قال رسول الله ﷺ كيف قلت فقال يارسول الله ارأيت ان قتلت فى سبيل الله يكفر عنى خطاياى فقال له رسول الله ﷺ نعم ان قتلت فى سبيل الله وانت صابر محتسب مقبل غير مدبر الا الدين فان جبريل قال لى ذلك (رواه مسلم، مشكاة المصابيح، كتاب الجهاد)**

**ژباړه:** له ابوقتاده څخه روایت ده چي رسول الله ﷺ صحابه کرامو رضي الله عنهم ته پورته شو او دایې وویل: بیشکه جهاد په ټولو اعمالو کې بهتره عمل ده،نو یو سړی پورته شو او دایې وویل ای د الله جل جلاله رسوله ماته خبر راکړه که چیرته زه د الله جل جلاله په لار کې ووژل شم آیا زما گناهونه به معاف او وبښل شي نو رسول الله ﷺ ورته وویل هو که چیرته ته د الله جل جلاله په لار کې په داسي ډول سره ووژل شې چي ته صبرکوونکی،خاص د الله جل جلاله رضا غوښتونکی او د جهاد په ډگر کې شاته تیښته کوونکی نه بلکه په دښمن باندې مخامخ ورتلونکی یې بیا رسول الله ﷺ ورته وویل تاڅه وویل؟ نو ورته یې وویل: ای د الله جل جلاله رسوله ماته خبر راکړه که چیرته زه د الله جل جلاله په لار کې ووژل شم آیا زما گناهونه به ورژول شي نو رسول الله ﷺ ورته وویل هو که چیرته ته د الله جل جلاله په لار کې په داسي ډول سره ووژل شې چې

ته صبرکوونکی، خاص د الله ﷻ رضا غوښتونکی او د جهاد په ډګر کې شاته تېښته کوونکی نه بلکه په دښمن باندې مخامخ ورتلونکی یې، یو پور درته نه ښئل کیږي ځکه جبرائیل ﷵ ماته همداسې وویل.

## کوم یو مجاهد د الله تعالی په لارکې ده

**عن ابی موسی قال جاء رجل الی النبی ﷺ فقال الرجل یقاتل للمغنم والرجل یقاتل للذکر والرجل یقاتل لیری مکانه فمن فی سبیل الله قال من قاتل لتکون کلمة الله هی العلیا فهو فی سبیل الله (متفق علیه، مشکاة المصابیح، کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** ابو موسی رضی الله عنه وایي یو سړی نبي ﷺ ته راغی نوویې ویل یو سړی د غنیمت لپاره جنګیږي، یو بل سړی ددې لپاره جنګیږي چې خلک یې نوم یادکړي، او یو بل سړی ددې لپاره جنګیږي چې د خپل شجاعت رتبه ووینې نو په دوی کې کوم یو د الله ﷻ په لارکې ده؟ نو رسول الله ﷺ ورته فرمایې: هغه څوک د الله ﷻ په لاره کې ده چې د الله ﷻ د کلمې د لوړوالي لپاره جنګیږي.

## دامام او امیر مسؤلیت

**عن ابن عمر عن النبی ﷺ قال الا کلکم راعی وکلکم مسؤل عن رعیته فالامیر الذي علی الناس مسؤل عن رعیته والرجل راع علی اهل بیته وهو مسؤل عنهم والمرأة راعیة فی بیت بعلها وهی مسؤلة عنها والعبد راع علی مال سیده وهو مسؤل عنه الا فکلکم راعی و کلکم مسؤل عن رعیته (رواه الترمذي، کتاب الجهاد، مخ ۲۹۹)**

**ژباړه:** ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي ﷺ وفرمایل: خبردار هر یو له تاسو څخه مسؤله دی او ستاسو له هر یو څخه به د خپل رعیت پوښتنه کیږي نو له یو امیر څخه به د هغه د رعیت او ولس په اړه پوښتنه کیږي چې دده تر حکم لاندې وي او یو سړی د خپلې کورنۍ مسؤله دی او له ده څخه به ددې په اړه پوښتنه هم

کیږي او یو غلام د خپل څښتن د مال په اړه مسؤله دی او له ده څخه به ددې په اړه پوښتنه هم کیږي.

## د جهاد په لار کې صدقه تر ټولو صدقو بهتري لري

**عن ابی امامة قال قال رسول الله ﷺ افضل الصدقات ظل فسطاط فی سبیل الله ومنحة خادم فی سبیل الله...الخ(رواه الترمذي،مشکاة المصابیح،کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** د الله جل جلاله په لاره کې مجاهدینو ته د خیمې ورکول او یا خادم ورکول په ټولو صدقو باندې بهتري او غوره والی لري...

علامه ملا علي قاري رحمه الله فرمایي: چې له فسطاط څخه مراد خیمه یا هم یوه داسې ودانۍ او بناء ده چې سیوری پرې راځي.

## دالله تعالی په لارکې پاته کیدل د (۷۰) کلونو تر لمانځه غوره دي

**عن ابی هریرة رضي الله عنه قال مر رجل من اصحاب رسول الله ﷺ فیه عیینة من ماء عذبة فاعجبته فقال اعتزلت الناس فاقمت فی هذا الشعب فذکر ذلك لرسول الله ﷺ فقال لاتفعل فان مقام احدکم فی سبیل الله افضل من صلوته فی بیته سبیعین عاما الا تحبون ان یغفرالله لکم ویدخلکم الجنة اغزوا فی سبیل الله من قاتل فی سبیل الله فواق ناقة وجبت له الجنة(رواه الترمذي،مشکاة المصابیح،کتاب الجهاد)**

**ژباړه:** له ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی: د رسول الله ﷺ له صحابه کرامو څخه یو سړی په یوه دره باندې تیریدلو چې په دې دره کې د خوږو اوبو په یوه کوچنۍ چینه یې نظر راځي نو دې سړي ته یې ډیر خوند ورکړ او له ځان سره یې دا وویل که چیرته یوازې د عبادت لپاره دې درې ته راغلی وای او له ټولو خلکو گوښه شوی وای، کله چې همدا کیسه د رسول الله ﷺ په حضور کې یاده شوه نو رسول الله ﷺ ورته وایي داسې کارمه کوه ،بیشکه د الله جل جلاله په لاره کې ستاسو د یو

کس دریدل له هغه لمانځه څخه چې اویا کلونه په خپل کور کې ادا شي بهتري او لوړ مقام لري،آیا په تاسو کې یو څوک دا نه خوښوي چې الله ﷻ ورته ببننه وکړي او جنت ته مو داخل کړي، د الله ﷻ په لاره کې غزا وکړئ چاچي د اوښې لوشلو په اندازه د الله ﷻ په لارکې جهاد وکړو هغه ته جنت واجب شو.

## په اعمالو کې بهترین عملونه کوم دي

**عن عبدالله حبشی ان النبی ﷺ سئل ای الاعمال افضل قال طول القیام قیل فای الصدقة افضل قال جهد المقل قیل فای الهجرة افضل قال من هجر ما حرم الله علیه قیل فای الجهاد افضل قال من جاهد المشرکین بماله ونفسه قیل فای القتل اشرف قال من اهریق دمه وعقر جواده (رواه ابوداود،مشکاة المصابیح،کتاب الجهاد مخ ۳۳۳)**

**ژباړ:** له عبدالله حبشي څخه روایت ده چې له نبي ﷺ څخه پوښتنه وکړل شوه چې په اعمالو کې کوم یو عمل ډېره بهتري لري؟ نو رسول ﷺ ورته وفرمایل د شپې زیات الله ﷻ ته دریدل بیا پوښتنه وشوه چې کومه صدقه په ټولو صدقو کې غوره ده؟ نو حضور علیه السلام ورته فرمایي: په داسي وخت کې صدقه ورکول چې صدقه ورکوونکی پخپله هم محتاجه وي، بیا پوښتنه وشوه چې کوم هجرت په ټولو هجرتونو کې غوره او بهتره ده؟ نو رسول الله ﷺ ورته فرمایي: هغه هجرت چې له حرامو څخه وشي یعنې د حرامو کارونو پریښودل تر ټولو غوره او بهتره هجرت دی بیا پوښتنه وشوه چي کوم جهاد په ټولو جهادونو کې افضله او بهتره ده نو رسول الله ﷺ ورته فرمایي: د هغه چا جهاد په ټولو جهادونو کې غوره او بهتره ده څوک چي له مشرکینو سره په مال او ځان جهاد وکړي،بیا پوښتنه وشوه چي کوم وژل کیدل په ټولو کې عزتمن او غوره دي؟ نو رسول الله ﷺ ورته فرمایي: د هغه چا وژل کیدل په ټولو

کې عزتمن دي چې د الله ﷻ په لاره کې يې وينه توی شي او هغه ښه قيمتي آس يې هم په دې لاره کې زخمي شي.

تشريح: په اوس وخت کې د آس مصداق موټر،موټرسايکل او... دی او همدارنګه د اوسني وخت ټول اسباب ورڅخه مراد کيدای شي نو مجاهدينو ته هم پکار دي چې د جهاد په دې مقدسه لاره کې خپل قيمتي او ښه سورلۍ واخلي لکه: ښه موټر سايکل او...

## له غزا څخه بيرته راګرځيدل دومره ثواب لري لکه غزا کول

**عن عبدالله ابن عمرو ان رسول الله ﷺ قال قفلة كغزوة(رواه ابوداود،مشكاة المصابيح،كتاب الجهاد مخ ٣٣٣)**

**ژباړه:** له عبدالله ابن عمرو رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وويل له غزا څخه بيرته راګرځيدل داسي فضيلت لري دي لکه غزا کول.

عزتمندو! محدثين علماءکرام فرمايي: د يو غازي په بيرته راتګ کې هم ځکه ثواب ده چې کله هم يو غازي کور ته راشي نو د خپل اهل اوعيال حق به ادا کړي او ځان به د بيا ځل لپاره جهاد کولو ته چمتو کړي.

## دالله په لارکې د روژې نيولو فضيلت

**عن ابی سعید الخدري قال سمعت النبی ﷺ یقول من صام یوماً فی سبیل الله بعد الله وجهه من النار سبعین خریفا(رواه البخاري،كتاب الجهاد مخ:٣٩٨)**

**ژباړه:** له ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت شوی چې ماله نبي ﷺ څخه اوريدلي چې ويل به يې چاچې يوه ورځ د الله ﷻ په لاره کې روژه ونيوله الله تعالی به يې د جهنم له اورڅخه د اويا کلونو مسافې په اندازه د جهنم له اورڅخه لرې کړي.

## ښځې او ماشومان به د کفارو هم نه وژل کيږي

**عن ابن عمر اخبره أن امرأة وجدت فی بعض مغازی رسول الله ﷺ مقتولة فانكر رسول الله (صل الله عليه وسلم) ذلك ونهى عن قتل النساء والصبيان (رواه الترمذي، كتاب الجهاد مخ: ٢٨٦)**

له ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت شوی چې د رسول الله ﷺ په ځينو غزواتو کې يوه ښځه په داسې حالت کې پيدا شوه چې وژل شوې وه، نو کله چې رسول الله ﷺ پرې خبر شو نو دا عمل يې ډېر بد او مردود وګڼلو او د ښځو او ماشومانو له وژلو څخه يې منع اعلان کړه.

## کافر به هم په اور نه سوځول کيږي

**عن ابی هريرة قال بعثنا رسول الله ﷺ فی بعث فقال ان وجدتم فلانا وفلانا الرجلين من قريش فاحرقوهما بالنار ثم قال رسول الله ﷺ حين اردنا الخروج انی كنت امرتكم ان تحرقوا فلانا وفلانا بالنار وان النار لا يعذب بها الا الله فان وجدتموهما فاقتلوهما (رواه الترمذي، كتاب الجهاد مخ: ٢٨٦)**

**ژباړه:** له ابو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې يو وخت زه رسول الله ﷺ د مجاهدينو په يوه ټولۍ کې چيرته وليږلم او دا توصيه يې هم راته وکړه که چيرته تاسو له قريشو څخه فلانکی او فلانکی پيدا کړل نو دواړه په اور سره وسوځوئ، کله چې موږ د وتلو اراده وکړه بيا رسول الله ﷺ وويل: ما تاسو ته امر کړی و چې فلانکی او فلانکی په اور وسوځوئ، مګر اوس داسې مه کوئ بيشکه په اور سره عذاب ورکول له الله جل جلاله پرته له بل هيچا سره نه ښايي که چيرته تاسو دوی دواړه پيدا کړل نو ويې وژنئ.

## مجاهد به کبرجن ، خیانت کوونکی او پوروړی نه وي

**عن ثوبان قال قال رسول الله ﷺ من مات وهو برء من الكبر والغلول والدين دخل الجنة (رواه الترمذي، كتاب الجهاد مخ: ۲۸۶)**

**ژباړه:** له ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وویل څوک چي په داسي حال کي مړ شي چي له کبر،خیانت او پور څخه بیزاره او خلاص و نو دغه کس به جنت ته داخل شي.

محدثین علماءکرام فرمایي:چي له پورڅخه مقصود حقوق العباد یعنې د بنده گانو حقوق دي.

## د یو شهید شپږ عجیبه مقامات

**عن المقدام بن معديكرب قال قال رسول الله ﷺ للشهيد عند الله ست خصال يغفر له في اول دفعة ويرى مقعده من الجنة ويجار من عذاب القبر ويأمن من الفزع الاكبر ويوضع على رأسه تاج الوقار الياقوته خير من الدنيا وما فيها ويزوج اثنتين وسبعين زوجة من الحور العين ويشفع في سبعين من اقاربه (رواه الترمذي، كتاب الجهاد مخ: ۲۹۵)**

**ژباړه:** مقدام بن معدیکرب ویلي چې رسول الله ﷺ وویل: د شهید شپږ خصلتونه دي د شهادت په لومړیو لحظو کې به الله جل جلاله ورته د ټولو گناهونو ببننه وکړي، او په جنت کې به خپل ځای ور ولیدل شي،د قبر له عذاب څخه به پناه ورکړل شي، د قیامت له هغه سختې ورځې له ویرې به په امن کې وي او د عزت یو داسي عجیبه تاج به ورپه سرکړل شي چې ددې تاج یاقوت به له دې دنیا اوڅه چي په دې دنیا کې دي غوره او بهتره وي او نکاح به یې له ۷۲ جنتي غټو سترگو والا حورو سره وشي او د خپلو اویا خپلوانو په حق کې به یې شفاعت قبول کړل شي.

## د مسلمانانو جهاد ته هڅول

الله ﷻ په قران مجیدکې فرمایي: **یایها النبی حرض المؤمنین علی القتال ان یکن منکم عشرون صابرون یغلبوماْتین وان یکن منکم ماْة یغلبوا الفا من الذین کفروا بانهم قوم لا یفقهون (سورة الأنفال: ۶۵)**

**ژباړه:** ای پیغمبره ﷺ ! مؤمنان(د کفارو په مقابل کې) جنگ ته وهڅوه، که ستاسې نه شل تنه صابران وي، نو هغوی به پر دوو سوو برلاسي شي او که سل تنه داسي وي نو د حق د منکرانو پر زرو تنو باندې به برلاسي شي، ځکه منکران داسي خلک دي چې پوهه نلري.

## یو مسلمان به له څو کفارو سره مقابله کوي؟

په راتلونکي آیت مبارکه کې الله تعالی فرمایي:

**الئن خفف الله عنکم وعلم ان فیکم ضعفا فان یکن منکم مائة صابرة یغلبوا مائتین وان یکن منکم الف یغلبوا الفین باذن الله ان الله مع الصابرین (سورة الأنفال: ۶۵)**

**ژباړه:** ښه نو اوس الله ﷻ ستاسې پیټی سپک کړ او هغه ته له وخته معلومه وه چې په تاسو کې کمزوري ده، نو که ستاسې څخه سل تنه صابران وي، نو هغوی به پر دوو سوو او که زر تنه داسي وي، نو پر دوه زرو به د الله ﷻ په حکم برلاسي شي او الله ﷻ د هغو خلکو ملگری دی چې صبر کوونکي دي.

عزتمندو لوستونکو! مفسرینو یوه عجیبه نقطه رایستلې ده هغه داده چې په مخکې ایت کې الله ﷻ وفرمایل چې شل تنه به په سلو تنو غالبه کیږي او په دغه پورته ایت کې الله ﷻ آساني راوستله نو دوی وایي چې په هغه آیت کې الله تعالی ورسره د صبر قید ایښی دی نو اوس به یې معنا داسي شي چې که چیرته دوی مجاهدین

د جهاد په حالت کې په تکلیفونو باندې صبر وکړي نو شل تنه مسلمانان به د سلو تنو او سل تنه به د زرو تنو مقابله کوي.

یاددانبت: یوتن مسلمان به له دوو تنوکفارو تیښته نه کوي مگر کله چې له دوو تنو څخه اضافه شي نو بیا جواز لري.

## د احادیثو مبارکوو له مخې جهاد ته هڅونه

**عن حمید قال سمعت انسا یقول خرج رسول الله ﷺ الی خندق فاذ المهاجرون ولانصار یحفرون فی غداة باردة ولم یکن لهم عبید یعملون ذلك لهم فلما رأی ما بهم من النصب والجوع قال اللهم ان العیش عیش الاخرة فاغفر الانصار و المهاجرة فقالوا مجیبین له (شعر) نحن الذین بایعوا محمدا علی الجهاد ما بقینا ابدا (رواه البخاري، کتاب الجهاد، مخ ۳۹۷)**

**ژباړه:** له حمید څخه روایت ده دی وایي چې ماله انس رضي الله عنه څخه اورریدلي دي چي ویل به یې: رسول الله ﷺ یوه ورځ خندق ته ووت نو گوري چې مهاجر اوانصار په ساړه سهارکې پداسي حال خندقونه کني چي هیڅ کوم خادمان هم نلري چې ددوی کارورته وکړي کله یې چي ددوی ستړیا او لوږه ولیده نو رسول الله ﷺ وویل: ای خدایه نشته ژوند مگر ژوند د اخرت! اې خدایه! ته انصارو او مهاجرو ته مغفرت او ښښنه وکړې! نو صحابه کرامو ورته په ځواب کې وویل: موږ هغه خلك یو چې ترڅو ژوندي یو له محمد ﷺ سره مو پر جهاد بیعت کړی دی.

## د رسول الله ﷺ مشرکانو ته بد دعاء

**عن عبدالله بن اوفی یقول دعا رسول الله ﷺ یوم الاحزاب علی المشرکین اللهم منزل الکتب سریع الحساب اللهم اهزم الاحزاب اهزمهم وزلزلهم (رواه البخاري، کتاب الجهاد مخ: ۴۱۱)**

**ژباړه:** له عبدالله بن ابي اوفى څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ مشرکانو ته په داسي ډول سره ښیرا او بد دعاء وکړه:ای خدايه! چي ته را نازلوونکی دکتاب يې، زر حساب کوونکی يې ای خدايه! د دوی لښکرې ماتې کړې دوی مات او ټوټه ټوټه کړې او په دوی زلزله راولې په سختې زلزلې سره.

**اول اعتراض:** بعضې کسان سوال کوي چې دلته له کفارو سره صلحه شوې ده او په نورو هېوادونو کې جنګ له صلحې مخالفت کوي.

**اول جواب:** کفارو صلحه ماته کړې ده په کابل کې يې په بي پيلوټه تياره حمله کړې ده.

**دويم جواب:** د جهاد الدفعي په حالت کې صلحې ته هم اعتبار نشته دلائل يې لاندې حديث دی.

لاندې حديث د امير او صلحې دواړو مسئلو لپاره دليل دی.

**دليل:** د بني قينقاع د پيښې واقعه زمونږ دليل دی هغه واقعه دا ده چې بني قينقاع د يهودو يوه مشهوره قبيله وه چې دوئ له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره صلحه کړې وه خو يوه ورځ د بني قينقاع په بازار کې يهودانو د يوې مسلمانې ښځې د بي عزتۍ کوشش شروع کړ چې په دغه وخت کې د يوه مسلمان صحابي ورته فکر شو نو دغه مسلمان صحابي هغه يهودي مړ کړ.

**دويم اعتراض:** د افغانستان خلک تر کفارو ضعيفه دي نو جهاد پرې فرض نه دی

**جواب:** کله چې د مسلمانانو په يوه ساحه کې کفار حمله وکړي او هغه ضعيفه وي نو نور مسلمانان به يې کومک کوي.

قلة الفرد او يا ضعف چې مونږ کم يو د جهاد نه دفعه کوي د احد په غزا کې کفارو حمله وکړه د کفارو تعداد تر ۳۰۰۰ پورې رسيدلو اود مسلمانانو تعداد تر ۲۰۰ پورې

وه د خندق په غزا کې مسلمانان په اخیر کې ۳۰۰ پاتې شول او کفار تر ۱۰۰۰ پورې رسیدل.

نو په ټول تاریخ کې مسلمانان کم وي دغه دلیل د نه فرضیت کیدالی نشي په کتابونو کې چې د قدرت شرط راغلی دی د هغه معنی قدرت علی القتال ده یعنې چې ګوډ شل او ړوند به نه وي هغه قادر علی القتال ده لکه مخکې چې مونږ دا خبر ذکر کړو اود افغانستان خلک تر کافر ضعیفه نه دي ډېر کوچنی امارت له اسبابو خالي ټول کفار ددنیا یې مات کړل او اسلامي نظام یې قائم کړو الحمدلله افغانستان سوپر طاقت دی.

**دریيم اعتراض:** په بعضې کتابونو کې مسئله ده چې امام که مجاهدین د یوه مرکز له کومک څخه منعه کړي نو هغه به د هغه مرکز مجاهدینو کومکنه کوي:

اول جواب: سائل دې مهرباني وکړي مسئله دې پوره ذکر کوي اصلي مسئله د جنګ د مابین جزیه ده بوره جزیه داسې ده اندي ذکر کیږي.

**واذا جعل المام الساقة على القوم معينين والميمنة والميسرة كذالك فشد العدو على الساقة فال بآس اهل الميمنة والميسرة ان يعينوهم اذا خافوا عليهم وعذا النهم اذا لم يعينوا اهل الساقة يظهر العدو على اهل الساقة وبعد ما ظهر العدو واله الساقة يتضرر اهل الميمنة الميسرة من ذالك الجانب ففى اعانتهم دفع الضرر عنهم وعن انفسهم وكل ذالك مندوب اليه شرعا وهذا اذا كان اليخل بمراكز هم فالينبغى لهم ان يعينوا اهل الساقة وان امرهم الاميران اليبرحوا مراكزهم ونهيان يعين بعضهم بغضا فالينبغى لهم ان يعينوا اهل الساقة (فتاوى تاتارخانيه ج ۵ صفحه ۷۴**

نو سائل دې پوره عبارت نقل کړي چې د مسئلې اصلي محمل پیدا شي محمل یې د جنګ په میدان کې ده چې مجاهدینو ته چې کله امیر امر وکړي چې یو د بل

کومک مه کوی مثال میمنه او میسره دي یو دبل مرسته نه کوي نو په هغوئ اطاعت الزام ده دغه مسئله اتفاقي ده چې د جنگ په میدان کې اطاعت الزام ده.

دویم جواب: که له دغه ظاهره انکار کوي چې د جنگ د میدان نه ده دغه مسئله کتابونو د فرض کفايي جهاد الندي را اخيستي ده نه د فرض عين او خبر په فرض عين جهاد کې ده.

## مأخذونه


ردالمحتار للعلامة ابن عابدين الشامي رحمه الله

بدائع الصنايع فى ترتيب الاحكام والشرايع

البحر الرائق للعلامة ابن نجيم رحمه الله

صحيح البخاري لأمام محمد ابن اسمعيل البخاري

صحيح المسلم لأمام المسلم بن الحجاج النيسابوري

صحيح أبي داود لأبي داود سليمان بن الأشعث

صحيح الترمذي لمحمد بن عيسى الترمذي

صحيح النسائي لأحمد بن شعيب النسائى

مشكاة المصابيح لأبي عبدالله محمد بن عبدالله ا لخطيب العمري

فقه و اجتهاد فى الجهاد للشيخ الشهيد عبدالله العزام

تفسير ابن كثير لامام ابن الكثير رحمه الله

تفسير المظهري للعلامة قاضي ثناء الله

البناية شرح الهدايه

د پاكستان مقدس جهاد لفاضل دارالعلوم كراچي مولوي عبدالهادي

التحكيم الى القران